هفته نامه

دجهاد هنداره

مراة الجهاد

لومړي کال، د ۵ ګڼه، چهارشنبه، د ۱۳۷۰ هـ ش کال دسنبلي (۶)

PROPERTY ACKU

شهر تالقان هدف بمباران رژیم کابل قرار گرفت

به گزارش یك منبع جهادی درپشاور طیارات رژیم شهر تالقان مرکز ولایت تخار وتنگی فرخار را مجدداً هدف بمباران شدید قرار داده باعث قتل وجرح عده کثیری ازهموطنان ماگردیده که شمار دقیق ان تاکنون مواصلت نکرده شده است .

ظرف ده روز اخیر این دومین بمباران است که بر شهر تالقان وسایر مناطق آزاددرشمال کشور درسرحد روسیه صورت گرفته است .

دربمباران هفته گذشته تنها در شهر تالقان یکصد تن ازاهالی محل شامل زنان ، اطفال وریش سفیدان شهید وبیش از ۳۰۰ نفر دیگر جراحت برداشتند .

خبر مذکور می افزاید که احمد شاه مسعود رئیس شورای نظار جمعیت اسلامی که حین بمباردمان رژیم در تالقان بود الحمد لله از این بمباردمان جان به سلامت برده است .

په روسیه کی دنیوني اوځان وژني لړۍ روانه ده

مسکو ، دسنبلي ٤ مه :

درارسیدلي خبرونو له مخي ویل کیږي چي تیره ورځ دروسي پوځونو یو لوړ رتبه جنرال له خپلي دندي څخه برطرفه شوي ، همدارنګه دکې ، جي ، بي پولیسو یو مرستیال هم برطرفه کړای شوي دي .

همداراز ویل شوي چي دکمونست ګوند دمرکزي کمیټي یوه لوي غړي ځان وژلي دي چي دناکامي کودتا وروسته دا دریم لوړ رتبه غړي دي چي خودکشي کوي .

همدارنګه دشوروي جمهوریتونو ویاند له خپلي دندي څخه استعفي کړې

خبرونه وایي چي یو زیات شمیر کسان په کودتا کي دګډون په تور نیول شوي دي ، یل لوري «یلتسین » اوس اوس ګورباچوف دناکامي کودتا اصلي مسؤل بللي دي..

الحاج حقاني د« الاتحاد »جریدی داداري له خواجوړی شوي غونډي ته په ویناکي :

زموږ جهادي پاڅون د روسي استعمار لاندي هیوادونه راویښ کړل او په هغوکي یي داسلام او خپلواکی جذبه راوپاروله

په ۲ مخ کی

چهارپوسته درلوگر فتح ویك طیاره رژیم سرنگون شد

لوگر ، میدیا :

یك منبع جهادی ازولایت لوگرخبرداد که مجاهدین طی عملیات پیروزمندانه چهار پوسته سرکوهی ولسوالی محمد اغه ولایت لوگر راکه اخیراً ایجاد شده بود تصرف وتعدادی ازعساکر وملیشه رژیم کمونست کابل هلاك ویازخمی گردیدند .

خبر می افزاید که طی این عملیات شش تن از عساکراسیر مجاهدین گردیده و خسارات مالی نیز به دشمن وارد گردیده است .

همچنان طبق یك راپور دیگر یك طیاره جیت رژیم کابل هنگام بمباران مناطق تحت اداره مجاهدین درولایت لوگر روز اول سنبله هدف دافع هوایی مجاهدین قرار گرفته درمنطقه بره کی سقوط کرده است .

طبق راپور پیلوت طیاره بنام حفیظ الله که ازحادثه جان بسلامت برده توسط مجاهدین دستگیر شده است .

په پکتیا کی څلور تنه مجاهدین شهیدان شول

پکتیا ، ۱۳۷۰/۶/۱ :

دپکتیا ولایت دزرمت اوګردیزشاوخوا دنومیالی قوماندان الحاج محمد ابراهیم دجهادی مرکزونو څخه دحضرت عمر فاروق (رض) دغنډ دفرهنګی څانګی خبریال خبر راکوی چی دتیری جمعی په ورځ دسنبلی دمیاشتی په لومړی نیټه ددښمن ددرنډو توپونو دډزو په وسیله څلور تنه مجاهدین کاکو ، سید احمد خان ، ملا جمعه خان ، اویو تن عسکر په شهادت رسیدلی دی .

انالله وانا الیه راجعون

خبر زیاتوی چی دهمدغو ډزو له امله دقوماندان مؤمن خان په شمول دری تنه مجاهدین ټپیان شوی دی .

په کندهار کی درژیم یوه الوتکه راوغورځول شوه

کندهار ، میډیا :

دکندهار له ولایت نه دمیډیا درپوټ په اساس مجاهدینو داسد په ۲۶ مه نیټه دکندهار ښار دحضرت جی بابا په سیمه کی درژیم پر ځای پر ځای شوو قواو برید وکړچی په نتیجه کی ۸ تنه عسکراو ملشیه مړه ، پنځه تنه ټپیان او دوه نور دپوستی دقوماندان فضل احمد په شمول ژوندی نیولی شوی دی.

رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو پدی جګړه کی دملحد رژیم له قواو څخه یو میل هاوان،یو راکټ ، دری میله کلاشینکوفونه اویوه اندازه مهمات ولجه کړیدی .

همدارنګه په کویټه کی دمیډیا نمایندګی دکندهار له ولایت نه رپوټ ورکړی چی دشګی دولسوالی مجاهدینو تیره هفته دکندهار هوایی ډګر سره نژدی دمتماله په سیمه کی درژیم یو جیټ الوتکه غورځولی اودهغه پیلوټ یی چی محمدکریم نومیږی اودهلمند دولایت اوسیدونکی دی ژوندی نیولی دی .

په سروبی کی پنځه پوستی ونیول شوی

دکابل ولایت څخه میډیا ته درسیدلی رپوټ له مخی مجاهدینو داسد په ۲٤ مه نیټه دسروبی ولسوالی دګوره خران اوکاربورم دسیمو په امنیتی پوستو یو لړ عملیات ترسره کړل چی په نتیجه کی دکابل رژیم پنځه پوستی درژیم دقواو دکنترول نه ایستل شوی اوپکی ۶۰ تنه عسکر اوملیشه مړه او ۲۰ تنه نور ټپیان شوی دی .

دخبر ځای دخبر له مخی په دغه جګړه کی دمجاهدینو څخه هم څلور تنه شهیدان او پنځه تنه نور ټپیان شوی دی .

دجوزجان په ولایت کی دکابل رژیم ۱۱ تنه عسکراوملیشه وژل شوی

دجوزجان له ولایت نه میډیا ته رپوټ ورکړل شوی چی مجاهدینو دکابل رژیم هغه تعرضی قواو ته چی دمجاهدینو پر مرکزونو یی حمله کړی وه دسخت جنګ نه پس ماتی ورکړی او متعرضی قواوی یی تیښتی ته مجبوره کړی دی .

رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو پدی جګړه کی په درانده مالی تاوانونو بر سیره دکابل رژیم له قواو نه ۱۱ تنه عسکر اوملیشه وژلی پنځه تنه یی ټپیان او ۷ میله کلاشینکوفونه دیوی اندازی مهماتوسره ولجه کړیدی .

همدارنګه دیوه بل خبر له مخی مجاهدینو ددوستم ملیشی دکنډک پر پوستو برید وکړ چی په نتیجه کی یی څلور پوستی فتحه او ددښمن یو شمیر افراد یی ووژل .

رپوټ وایی پدغه نښتو کی ۱٤ میله کلاشینکوفونه لس میله درانده وسله ، دمرمیو او مهماتو سل صندوقه او یو مقدار لوژستیکی مواد په غنمیت ونیول شول .

دسوډان حکومت پر خلاف نظامی کودتا شنډه شوه

خرطوم ، دسنبلی ۲ مه :

دسوډان حکومت لوړ رتبه مقاماتو دغه خبره تائید کړی چی ددی هیواد دحاکمی ملی کمیټی پرخلاف یوه نظامی کودتا شنډه شوی اوپه هغی کی متهم یو شمیر نظامی او مسلکی افراد نیول شوی دی .

که څه هم ددی کودتا اودهغی په لړ کی دنیونو نیټه دحکومتی ترجمان له خوا نده ویل شوی ولی ویل کیږی چی دغه کسان دتیری سه شنبی په ورځ نیولی شوی دی

دیادونی وړ ده چی دجنرال عمر البشیر حکومت تیر کال هم یو شمیر نظامی افراد دکودتاپه تور نیولی وو.

چي ومي ليدل نوومي ليکل

جهادي سنګرونو ته دسفر راپورتاژ

په ۵ مخ کي

نشرات «پراودا» متوقف شد

مسکو ، اول سنبله :

نشرات روزنامه پراودا ارگان نشراتی حزب کمونست روسیه از جانب یلتسین رئیس جمهور فدراسیون روسیه روز جمعه متوقف گردید وبه همین دلیل شماره روز شنبه روز نامه مذکوراشاعت نیافت.

بعد از تحول کمونستی ۱۹۱۹ این اولین باریست که نشرات پراودا معطل می گردد.

سرمقاله

ددرې اړخیزو خبرو اترو دوهم پړاو اودبیلابیلو دریځونو ستونزه

یوه میاشت دمخه دپاکستان داسلامی هیوادپه مرکز اسلام آباد کی دافغانستان دقضیی دسیاسی حل دلارو چارو دپلټنی په رابطه دایران ، پاکستان او ځینو جهادی تنظیمونو داستازیو په ګډون ددری اړخیزو خبرواترو لړی پیل شوه ، ددغو خبرو اترو په لومړی ورځ دځینو جهادی تنظیمونو دبایکاټ په نتیجه کی داسی وبنودل شوه چی ګوندی خبری په بشپړه توګه له ناکامی سره مخامخ دی،خوبه سبایی بیا په یوه ناڅاپی توګه دخبرواترو دغه لړی بیاله سره پیل شوه-دوه ورځی نور یی هم دوام وموند ، په پای کی تری کومه مطلوبه نتیجه تر لاسه نه شوه اوداسی اعلان شوه چی دری واړه خواوی به داخبری تر مطلوبی نتیجی پوری جاری ساتی اوپه دی رابطه به داګست دمیاشتی په ۲۷ نیټه چی دسنبلی دمیاشتی له ۵ نیټی سره سمون خوری دایران په مرکز تهران کی بیا راغونډیږی اودخبرو اترو لړی به پیل کوی.

۸ مخ

زموږ دجهاد پرضد توطئې اودسیسې په ډیر شدت جریان لري او په هغو کی هغه هیوادونه هم برخه لري چي موږ يې دجهاد دحامیانو ګومان کاوه «الحاج حقاني»

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتأسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

زموږ جهادي پاڅون دروسي استعمار لاندې هیوادونه راویښ کړل اوپه هغوکې یې داسلام او خپلواکۍ جذبه راوپاروله

ژباړن : جمیل الرحمن «سائل»

عربی هیوادونو ته دخپل ... سفر په ترڅ کې نامتو مجاهد الحاج مولوي جلال الدین حقاني په عربي متحده اماراتو کې دخپریدونکي الاتحاد جریدې له خوا دافغانستان جهاد دسیاسي اونظامي حالاتو په هکله په جوړې شوي یوې مطبوعاتي غونډه کې ګډون وکړ.
پدې غونډه کې دنوموړې جریدې دشورا دمجلس رئیس عبیدطویرش دجریدې دتحریر مدیر اوددې جریدې لیکوالو غړو ګډون کړی ؤ .
حقاني صاحب پدې غونډه کې لومړی یوه مفصله وینا وړاندې کړه او وروسته یې دغونډې دګډون کوونکو پوښتنو ته ځوابونه وویل ، چې دادې ددغه وینا متن درنو لوستونکو ته وړاندې کوو ، اودپوښتنو اوځوابونو برخه به په راتلونکې ګڼه کې انشاءالله خپره کړو .
« اداره »

محترم مولوي صاحب دمجاهدینو فتوحاتو ته اشاره وکړه ویې ویل:چې داټول دپاك خدای (ج) په لطف اواحسان سره دبیوزلو اوناتوانو مجاهدینو له خوا چې لازم وسایل هم ورسره نه وه ترسره شوي دي اوپه یو لوی مادي قوت(روسیه)یې بری موندلی دی .
حقاني صاحب دسیاسي حل طرف ته په اشارې سره وویل: دسیاسي حل طرح یوه له هغو خطرونو اوګواښونو څخه ده چې موږ ته متوجه دي ، پدې طرح کې دنړۍ ډیر دولتونه شریك دي اودوی غواړي چې په خپل ټول قوت سره موږ دخپل فشار لاندې راولي اومجبور مو کړي چې دې سیاسي حل ته چې زموږ دجهاد اوقربانیو سره هیڅ اړخ نه لګوي غاړه کیږدو .
محترم حقاني صاحب وویل داطرح دټولو مجاهدینو له خوارد اوغندل شوي ده .
الحاج مولوي جلال الدین حقاني دخپلو خبرو په دوام وویل :
موږ دلوی خدای ډیر شکر ګزار یو چې موږ ته یې زموږ په ۱۶ کلن جهاد کې ډیر فتوحات اوبریالیتوبونه راپه برخه کړي دي ، دټولو نه لویه فتحه اوبری چې زموږ په نصیب شوی دیوه لوی استعماري قوت په وړاندې زموږ دبیوزلي اوتش لاسي ولس مقابله اومقاومت ؤ چې دهغې په مقابل کې هغه زموږ دبیچاره او ضعیفو خلکو مقابله په تش لاس سره دیو لوی قوت په مقابل کې چې ټولومجاهدینو ډیر ستر بریالیتوبونه اوافتخارات ترلاسه کړل.په ظاهری بڼه دمادي وسایلو اوامکاناتو له مخې زموږ مقابله له دښمن سره ناشوني اوناممکنه ښکاریده له بلې خوا داجګړه دوه کاله دکابل له لاس

وه داډیره اوږده خونړۍ جګړه وه چې له یوې لسیزې څخه زیات دوام وکړ .
دښمن دهرې وسلې اوحربې نه کار واخیست اوهغه یې زموږ پر خلاف استعمال کړه خو ددې ټولوسره خدای فتحه اوبری زموږ په نصیب کړاو روس ته یې شکست اوماته ورکړه اوپوره یوه لسیزه موږ له روسانو سره په جګړه تیره کړه اوله هغې مخکې دوه کاله دکابل له لاس کینولي رژیم سره جګړه روانه وه .
روسان اوس هم دکابل رژیم

مرسته او ملاتړ کوي خو سره لدې زموږ فتوحات جریان لري تردې حده پورې چې اوس دروسي مشرانو تر منځ هم یو لړ مخالفتونه اوتربګنی شروع شوي دي او له خپل شکست وروسته دا ملامتي یو پر بل اچوي اودې مسئلې اوس ددوی په منځ کې ډیر غټ اختلافات رامنځ ته کړی دي حتی دروسي دخلکو په سطح یې هم داعتراضونو څپې راپورته کړې.دبلې خوانه زموږ جهاد دروسي استعمار لاندې اسلامي جمهوریتونه هم بیدار

کړل ځکه چې کله دغورلسونو افغان مجاهدین ولیدل چې په خالي لاس یې دخپلې آزادی اوعزت دحفاظت دپاره جهاد پیل کړی نو دوی هم دافغانانو نه دادرس زده کړاودافغانانو په اقتداء اونقش قدم سره یې دروسي استعمار نه دخلاصون اوآزادی احساس توپاني شو .
دهغو لویو فتوحاتو نه چې لوی خدای زموږ په برخه کړي دافغانستان له ۲۱۸ مرکزونو فتحه چې په دې کې علاقه داری ، ولسوالی اوولایتونه شامل دي اواوس فقط ددښمن ۵۲ مرکزونه پاتې دي چې هغه به هم ډیر ژر دخدای په فضل دمجاهدینو په لاس فتحه شي .
موږ تراوسه پورې کمزوري شوي نه یو سره لدې چې پدې وروستیو مراحلو کې پرمجاهدینو مرستې هم کمې شوي دي ځکه دمسلمانانو توجه دصدام جنګ طرف ته وګرځیده چې پر کویټ یې ظالمانه حمله وکړه

په اووم مخ کې

الفجر — الصفحة التاسعة — ندوة — السبت ٣ اغسطس ١٩٩١ م

في ندوة نظمتها جريدة «الاتحاد»

حول الجهاد في افغانستان

جلال الدين حقاني: الحل السلمي المطروح مرفوض.. ولا بديل عن حكومة إسلامية

لسنا دعاة حرب وإذا تاب نجيب الله وأتباعه فسنعفو عنهم

حررنا ٢١٨ مدينة ومركزا من بين ٢٧٠ في كل افغانستان

الإعلام الغربي تحول من التأييد الى العداء بعد انسحاب السوفييت

تغطية : اسماعيل الفخراني تصوير: احمد مرزوق

تآمر إعلامي غربي

منحة في ثوب المحنة

په روس کې وروستیو ډراماتیکو پیښوته یوه کتنه

عبدالوکیل

په روس کې دروان کال داسد ۲۸ نیټې کودتا څخه وروسته ظاهرأداسې څرګندیده چې نور نو دګورباچوف دپرسترویکااو ګلاسنوست اقتصادي اوسیاسي تګ لارې ته خاتمه ورکړل شوه اودبریژنیف سیاسي اواقتصادي تګ لارې ته ورته حرکت له سره پیل شو خوداد کی ، جی ، بی په واسطه سره جوړې شوې ډرامې لومړی پرده وه اوددریو ورځو څخه وروسته ګورباچوف یو ځل بیاپرهمغه پخوانی چوکۍ کینول شو.
داندروپوف په رامنځ ته کیدو سره دبریژنیف سیاست مخالف اواوسنۍ سیاسي اواقتصادي تګ لارې ته ورته بهیر پیل شو اودګورباچوف په وروستیو پنځو کالونو کې داپروسه نسبتاً ګړندی شوه خودغې تګ لارې کی ، جی ، بې یې په روسي کمونستي امپراطورۍ کې ډیره زردیو شمیر اقتصادي اوسیاسي ستونځو سره لاس په ګریوان کړه چې په نتیجه کې یاداچې نوموړې اقتصادي اوسیاسي تګ لاره (ګلاسنوست اوپروسترویکا) باید پریږدي اویا خپل وروستي اوټول هغه امکانات پکار واچوي کوم چې پخپل لاس کې لري خوکی ، جی ، بی همدا اوس وروستی لاریعنې دنوی غوره کړی سیاست دلاژورتوب پراخیدو اودهغه دګړندي کولو لاره انتخاب کړه لاکن که چیرې بیاهم کومه مثبته نتیجه ترلاسه نکړي په هغه صورت کې دولسونو اوملتونو دتیر ایستنې اوپر هغوی باندې ددایمي تسلط لرلو په خاطر بل ډول سیاسي اواقتصادي تګ لاره اختیاروي .
روسان دګلاسنوست اوپرسترویکا سیاست تر پردې لاندې غواړي دیوې خوا هغه پخوانی وحشي استعماري څیره دنړۍ اوددوی تر تسلط لاندې ولسونو څخه پټه کړي اودبلې خوا په غرب اودنړۍ په نورو هیوادونو کې دسیاسي اواجنتوري نفوذ امکانات پیداکړي پردې برسیره په نظر کې لري چې دغرب څخه اقتصادي اوتخنیکي مرستې هم ترلاسه کړي .
کی ، جی ، بی دغه وروستی ډراماتیك کړه وړه (کودتا اودهغې ناکامیدل) ددې لپاره په کار واچول چې دخپلو مخالفینو دله منځه وړلو لپاره په زړه پورې بهانه پیداکړي اوهم نړۍاوپه روس کې ددوی تر تسلط لاندې ولسونو لپاره داسې څرګنده کړي چې دکودتا په ناکامولو سره ګنې رښتیني دموکراسي بریالی شوه اوداهم دولسونو دمقاومت او غوښتنې په نتیجه کې خو په عمل کې ولس یاغیر نظامي خلکو نه کوم نظامي مرکز فتح کړاونه دکودتاچیانو په مقابل کې مسلحانه وجنګیدل .
دمسکو ټولې دولتي اوګوندي مؤسسې دکودتاچیانو په لاس ورغلې خوپه دریمه ورځ دیلتسین په یوه اعلان سره ټولې قواوې خپلو بارکونو اوقرارګاو ته بیرته ستنې شوې اوګورباچوف دکریمیا څخه چې دکودتاچیانو دری نظامي امنیتي کمربندونه تری تاووُراوستل شو خوددواړومخالفوخواوڅخه دیوه نفر هم پوزه وینې نه شوه او یوازې په مسکو کې دری ملکي کسان دزرهپوش دتیزرفتارۍله امله دسړك پر غاړه له منځه ولاړل اوکله چې دکودتاهریالیتوب اوبیا بیرته ناکامولو صحنې پای ته ورسیدې بیاهم په ټولو دولتي ساحو کې ولسونو ته نه کوم قدرت وسپارل شو اونه یې دخپلو متهو په زور د دولتي یاسیاسي قدرت کومه ځنډه په لاس کې ونیولای شوه اوټولې مهمې دولتي چارې په علنې ډول سره کې

په ۷ مخ کې

پیروزی های جهادی درقبال ضعف موقف سیاسی ما!

احمد ضیاء «رحیمزی»

آغاز سال ۱۳۷۰ خورشید ی برای ملت مجاهد وسربکف ما مصادف بود بافتوحات عظیم درسنگرهای داغ جهاد اسلامی کشور ، که بافتح تاریخی خوست ودرهم شکستن مستحکم ترین لانه های رژیم مزدور در انجا اغاز یافت ، وبدنبال ان مجاهدین مؤمن ما فتوحات و پیروزیهای سترگی را درسمت شمال ومناطق دیگر کشور بدست اوردند ومراکز بزرگی را که درطول سالهای متمادی انقلاب بحیث مستحکم ترین پایگاه های نظامی رژیم کابل تلقی می گردید و ظاهراً تصرف ان بدست مجاهدین ناممکن تصور می شد ، فتح و تحت کنترول مجاهدین قرار گرفتند .

به همین گونه درغرب کشور مجاهدین دیر ولایت هرات حملات پی درپی قوای مهاجم رژیم را که تقریبا از برج ثور سال جاری اغاز یافته و تاآکنون هم برمناطق زنده جان ، پشتون زرغون ، ومناطق دیگر این ولایت ادامه دارد ، به عقب زدند ، و باتحمل قربانی هاوویرانی های بی سابقه مشت دندان شکنی بردهان مزدوران روسی کوبیدند ، همچنان درنقاط مرکزی کشور و در اطراف شهر کابل مجاهدین مؤمن ما با پیکار قهرمانانه ودفاع شهامتمندانه توانستند تعرض های رژیم مزدور را که به منظور توسعه کمربندامنیتی کابل وتصرف سنگرهای قوی مجاهدین براه افتیده بودند به عقب زنند که رژیم کابل در طول دوماه جنگ در «میدان شهر»نه تنها به هیچ گونه پیشرفت دست نیافت ، بلکه بامتحمل شدن سنگین ترین تلفات (در حدود ۲۵۰۰ تن کشته و صدها تن زخمی) مجبور به عقب نیشینی به سنگرهای قبلی خود گردید ، همچنان درنقاط دیگر کشور مجاهدین قهرمان ماتوانستند با وجود اخذ اسلحه مختلف النوع رژیم مزدور کابل از باداران روسی خویش ، پیروزیهای چشمگیری را بدست بیاورند . که هم اکنون هم جنگ پیروزمندانه مجاهدین درنقاط مختلف کشور جریان دارد .انچه در دور نمای این فتوحات عظیم مجاهدین نمایان وخوشایندا ست ، اتحاد ،اتفاق ونظم همه نیروهای مؤثر جهادی درتسخیر سنگرهای دشمن ودفع حملات تعرضی قوای رژیم است .

ولی باتأسف باید اظهار داشت که درپهلوی این همه پیروزی های جهادی خویش ، درمیدان سیاست و دیپلوماسی ، انطوریکه شایان ماست ، نتوانسته ایم پیروزباشیم . توطئه های مشترك ورنگارنگ دشمنان سوگندخورده اسلام درمقابل جهاد ومبارزه عظیم واسلامی ملت ماهمه روزه رنگ تازه بخود می گیرند ، وبه شکل جدیدی درمقابل ماظاهرمی گردند که هدف همه انهایکی و همه از یك منبع نشئت می کنند . ولی در برابر این همه توطئه ها مادرصفوف جهادی خویش چیزی جز جوخسته کننده تشتت پراگندگی ، چند نظری و ..... نداشته ایم !

دراین اواخرودرطول یکی دو ماه اخیر تلاش ها ی متعدد و جدیدی از جوانب ومنابع مختلفی بنام حل سیاسی قضیه افغانستان براه افتیده وبه منظور تحقق یافتن کامل این پروسه تلاش های همه جانبه جریان داردکه می توان طرح پنج ماده ای ارائه شده از جانب سرمنشی سازمان ملل متحد را بحیث سراغاز جدید برای فعالیت های حل سیاسی شمرد .

اینکه طرح مذکور حاوی چه اندازه نکات مثبت وحل کنندہ وچه اندازه نکات منفی است بحث جداگانه را می شاید که درمواقع مختلف بران روشنی انداخته شده ، ولی حالا بحث ما روی این است که موقف قیادت جهادی ما در قبال این طرح چگونه بود ؟

متاسفانه تنظیم های جهادی ما درمورد طرح سازمان ملل متحد از اتخاذ یك موضع گیری واحد ، مثبت وقاطع عاجز امدند ، دوتنظیم جهادی مقیم درپشاور همه مقررات این طرح را رد نمود ه وانرا تلاش برای تداوم بخشیدن حکومت نجیب تلقی نمودند ، اما برخی دیگر برعکس طی اظهارات گنگ و غیر واضح بابرخی از مفردات این طرح توافق خویش را ابراز داشتند ، که به این ترتیب ما جامعه جهانی را یکبار دیگر متوجه ضعف سیاسی ، عدم وجود صلاحیت برای اتخاذ تصمیم واحد ، وتشتت وپراگندگی صفوف خویش ساختیم همچنان کنفرانس سه جانبه اسلام اباد (ایران - پاکستان - مجاهدین) هم شاهد عمیق ترین اختلافات بین تنظیم های جهادی مابود،

اولاً دوتنظیم جهادی از اشتراك درجلسات ان خود ـداری نمودند وبعداً هم هیئات یکی از تنظیم های دیگر جهادی جریان جلسه را به شکل احتجاج ترك نموده ودلیلش را هم مشکوك وغیر واضع بودن موقف جمهوری اسلامی ایران درقبال قضیه افغانستان وانمود کرد . گرچه کنفرانس مذکور باوجود تحریم ۳ تنظیم جهادی به جلسات خویش ادامه داده ودر پایان کار قطع نامه را نیز صادر کرد ، ولی عدم وجود طرح وموقف واحدی بین تنظیم های جهادی ما ن درجریان جلسات کنفرانس ، اختلاف نظر بین دوتنظیم به اصطلاح بنیادگرا و انقلابی (که دربرابر طرح «پریزدیکوبار » موقف واحدی داشتند) عدم اشتراك ۳ تنظیم جهادی ، خلای بزرگی ازاختلاف درمواقف سیاسی ، ونداشتن هیچ گونه طرح واحدی ، دربین تنظیم های جهادی ما را بر ملا ساخت ، اکنون که قرار است جلسه دوم کنفرانس سه جانبه درتهران برگزار گردید یکبار دیگر اختلاف ها وپراگندگی ها درنظریات مواقف سیاسی تنظیم های جهادی ما دراین مورد اشکار گردید .

> **انچه دردورنمای این فتوحات عظیم مجاهدین نمایان وخوشایند است ، اتحاد ، اتفاق ونظم همه نیروهای موثر جهادی درتسخیر سنگرهای دشمن ودفع حملات تعرضی قوای رژیم است**

اولا تاحال طرح واحدی که قرار فیصله جلسه اسلام اباد باید به توافق نظر همه نیروهای جهادی مورد بحث قرار گرفته ، برای حل قضیه افغانستان ارائه می گردید ارائه نشدهُ نتیجتاً درصورت اشتراك هیأت مجاهدین دراین اجلاس یکبار دیگر باید منتظر طرح دیگران برای حل قضیه خویش باشند ، تابعداً انها نظر خویش را درمورد ارائه نمایند .

ثانیاً ازهمین اکنون که چهار پنج روز به اغاز کنفرانس تهران باقی مانده یکی از تنظیم های جهادی با نشر اعلامیه ای اشتراك خویش دراین کنفرانس را مشروط به چند شرط ساخته که ازجمله اجازهٔ فعالیت ازاد برای تنظیم مذکور درخاك ایران اشتراك شورای ٤ حزبی ائتلاف احزاب شعیه مقیم پشاور درکنفرانس وتعین رئیس هیات اشتراك کننده افغانی قابل یاداوری می باشد .

به این ترتیب موجود نبودن موقف واحد وطرح سالم برای چگونگی حل قضیه افغانستان وچگونگی نظام اینده افغانستان دربین تنظیم های جهادی ازیکسو پیروزی های بزرگ جهادی و فتوحات عظیم ما را تحت الشعاع قرار می دهد ، وازسوی دیگر به دشمنان جهاد ومردم افغانستان فرصت این را مساعد می نماید تاطرح های خویش راکه به هیچ وجه به نفع جهاد وملت مجاهد ما، نبوده اند ونخواهند بود ، برماتحمیل نمایند .

اکنون که مادوکنفرانس بزرگ (کنفرانس سه جانبه تهران و کنفرانس منطقوی) راجع به حل قضیه افغانستان رادر پیشرو داریم ، لازم است تاهمه نیروهای مؤثر جهادی که نقش فعال وارزنده درجهاد ومبارزه ۱۳ ساله ملت مسلمان ماعلیه قوای اشغالگر روسیه و مزدوران بی فرهنگ انها داشته اند ، باهم متحدانه بیاندیشند ، موقف واضح وروشنی برای حل معضله افغانستان اتخاذ نمایند ، وطرحی واحدی درمورد چگونگی شکل اینده حکومت افغانستان ارائه نمایند که بتواند به خواسته های اساسی ملت جنگ زده ومظلوم ماجواب بگوید تاباشد که پیروزی های عظیم جهادی ماکه سنگرداران مومن ودلیر ما کسب نموده اند باطرح های ارائه شده ومواقف سیاسی ما همنوایی پیدا نماید .

درغیر ان مامجبور خواهیم بود به طرح های ارائه شده دیگران سر تسلیم فرو نهیم وانگاست که این همه پیروزی های مجاهدین ما درسنگر های داغ جهاد ، به هدر خواهد رفت .

اروپایي ټولنه اودیوګوسلاویا شخړه

ژباړن : شکور محمد

دلوګزامبورګ دبهرنیو چارو وزیر جاکیوس پوس وایی چی نوموړی موضوع په اروپا پوری تړلی ده ، نه په امریکا اونه په بل چا پوری. کولای وویل چی موږ دیو ګوسلاویا بحران بل چاته نه شوی پریښودی همدارازلوی ته ورته غږونه دبلجیم دبهرنیو چارووزیر مارك ایسکینس اودایټالیی دبهرنیو چارو وزیر جیانی ډی میکائیل هم په بهرنیو هیوادونو باندی کړی دی .

دامریکا رسمی مقاماتو هم له اروپائیانو څخه غوښتنه کړیده چی نوموړی شخړه پخپله اواره کړی.

نواروپایی ټولنی پریکړه وکړه چی دایټالیی ، لوګزامبورګ اوهالیند دبهرنیو چارو وزیران چی داروپایی ټولنی له پخوانی ، اوسنی او راتلونکی رئیسانو څخه عبارت دی دسمدستی سولی راوستلو په غرض بلګراد ته ولیږی اودشخړی دبیلابیلو ډلو سره له نژدی وګوری .

نوموړو مشرانو دډزبند راوستلو په غرض پر ټولو خواوو غږ کړی دی چی دزور له استعمال اوهرهغه عمل څخه چی ددی مخالفت اورته لمن وهی ځانونه وژغوری ، اوهم یی له سلوانیا او کروتیا څخه چی دبیلتون غوښتنی تحریك یی روان کړی دی غوښتی دی چی یوګوسلاوی ته دی قانونی مهلت ورکړی اوهم دی ټول هغه ځوانان چی دنوموړی هیواد دملی اردو له خدمت څخه ګوښی شوی دی ، خپلو عسکری قطعاتو ته ولاړ شی .

اوهم یی داسټلیا دهغه غږ چی داروپا ۳۵ قومونه دی سمدستی سره راټول اویو داسی کنفرانس دی جوړ کړی چی داروپادامنیت اوګډی همکاری له پاره پکی خبری اتری اوضروری اقدامات وکړی کلك ملاتړ کړی دی خو رسمی مقامات وایی چی په داسی موارډو کی راغونډیدل باید دپخوا په شان په ځنډیدلی توګه نه وی بلکه په داسی اضطراری حالاتو کی ګړندیو اقداماتو ته سخت ضرورت دی.

په دغه امنیتی کنفرانس کی به سربیره پر پورتنیو هیوادونو دامریکی متحده ایالات او روسیه هم ګډون کوی خو لوی پدی برخه کی یوازی له خپل سیاسی فشار څخه کار اخستلی شی اودهیڅ ډول پوځی تیری حق نلری ، دیوګوسلاویا کړکیچ ټولی هغه موضوع ګانی ترخپلی اغیزی لاندی راوستلی دی چی داروپایی ټولنی دلوړی سطحی کنفرانس ددی کال له پاره دغونډیدوپروخت په نظر کی نیولی وی چی هغه موضوع ګانی داسی ښودل شوی دی

۱- له روسی سره دمرستو په هکله خبری اتری .

۲- له جاپان سره په نوو اړیکوخبری اتری .

۳- داروپایی ټولنی په قوانینو کی دبدلون راوستلو په غرض خبری اتری .

دالمان هغه وړاندیز چی پر یوګوسلاویا دی ټولی مرستی وځنډول شی اروپایی مشرانو په کلکه رد کړی دی او وایی چی دغه وړاندیز له وخته ډیر وړاندی دی خو غور به پری وشی ، دغه پریمانه مرستی عبارت له هغو ۹۲۰ میلونه ډالرو څخه دی چی دپور او اعتبار په شکل کی به په راتلونکی پنځوو کلونو کی یوګوسلاویا ته ورکړل شی .

که مـي تـيـغ دايمـان زره کـي زرغـون نـه واي
څـيـري کـړي بـه مـي زره دکـمـون نـه واي
مـابـه هـر نمـرود مـنـلـي پـه خـدايي واي
که‌مـي لـوسـتـي دجـهـاد پـوهـنـتـون نـه واي

لنډه کيسه

په وينو سري چاچکي

محمد هاشم «رحيمي»

لوړمازديگر ؤ ، لمر خپلې زرينې وړانگې داريوب له شنو باغونو دگڼو ونو له منځه ورو ورو ټولولې او دمازديگر سيوروغوښتل دلمر دوړانگوځاى ونيسي . زمونږ غوږونه دطياروله ښگاه او دتوپونو له درزا څخه ارام شوي ؤ .

«حميدگل » راته وويل راځه چې سرك ته ښكته شو څو دقوا ءوو دراتگ پـه بـاب معلومات لاس ته راوړو ، چې تر كومه رارسيدلي ده .

په سرك باندې دپخوا پشان گڼه گوڼه نـه وه څوك نـه ښكاريدل چوپه چوپتياخوره وه يـواځـې دخـوړ اويـو شراراوريدل كيده .

ترلنډانتظار وروسته مو په يوه لاروى سترگي ولگيدې چې په گړنديو گامونو راروان ؤ. تررارسيدلو وروسته مې سمدستي ترې پوښتنه وكړه : وروره قـوأ تـركـومـه ځـايـه رارسيدلي ده ؟ په درزيدلي غږ يې راته وويل : زه لاپه «شگه » كې وم چې دقوى ټينگونه چونې ته وختل . موږ دمعلوماتو دترلاسه كـولـونه وروسـتـه زړه نـازړه دكـورپـه لـور رهـي شـوو. حاجي صاحب : چې‌دچوترى پرسرناست او دسوچونو په سمندر كې ډوب ښكاريدو .

په پنځم مخ كې

ای وروره افغانه ته

هرخوا فـريـادونه دي — اوښکـي سـيلابونه دي
چيغې اوسلگې واوره — څـيري گريـوانـونه دي
جوړ دکـربلا ميدان — وينو کـې ډوب زړونه دي
سـوى سرولمبو باندى — دښتـې اوډاگـونه دي

ته داقتدار غـم کې
نه يې ددیار غـم کې

وران افغانستان شولو — خاوری شو خـزان شولـو
وينې شوى چپى چپى — غرق پكى افغان شـولـو
هره خـوا ايـره ايـره — ژوند خوارو پريشان شولو
هرڅه لوټې لوټې شول — اورځمکه آسمـان شـولـو

ته پروت پالنگونو کې
اوسی په قصرونو کې

هرخوا شهيدان پراتـه — خاورو کې ځوانـان پـراته
غوځ يې تنکی زړونه شول — اور کې ماشومـان پـراته
کونډى دي که بوری دي — ټول په وير فـغـان پـراته
مور غواړی،بابا غواړی — غـم کې يتـيـمان پـراته

دي ددرد وغم ورځی
ډکی له ماتـم ورځی

ای وروره افغانـه ته — ځـوى دمسـلمانه ته
پريږده دنفاق رسـى — بـچ شـه له توپانه ته
درومه دوحدت په لار — فتحـى تـركاروانه ته
مينه کې ددين وطن — تيرشه لـه خپل ځانه ته

جوړ مضبوط صفونه کړه
ورك اختلافـونـه کړه

امان الله نصرت

ادبي اصطلاحات

سيد محي الدين هاشمي

استعاره:

لغوى معنى يى له چانه يوڅه په امانت غوښتل اوياپه امانت اخيستل دي اوپه عام مفهوم دحقيقى معنا په ځاى ديوى كلمې نه غير حقيقى مفهوم اخيستلو ته استعاره ويل كيږى . يا استعاره دتشبه يو ډول دى چى په هغى كى دتشبه يو ركن استعمال شى استعاره ځلور ركنونه لرى :

الف :مستعار ب :مستعارمنه ج : مستعارله

د :جامع

املاً :

لغوى معنايى مهلت وركول اودخاليگاه ډكول راغلى دى،خوپه ادبى اصطلاح دخپل ذهن په ملتيا خپلى اويا دنور چا خبرى په سمه اوصحيح توگه ليكلو ته املا‌ويل كيږى .

په ياد بايد ولرو چى كه ليكونكى يو څه دخپل يا بل چا دليكلى خط له مخى ليكى املاءورته نه شى ويل كيداى .

داملاء ليكونكى بايد په پام كى ولرى چى : (١) هغه څه چى ليكى بايد چى دصحيح تلفظ له مخى يى وليكى (٢) دالفاظو په ليكنه كى بايد دژبى گرامرى قواعد په پام كى ولرى .(٣) دكليمو په ليكنه بايد داشتباه اوالتماس مخه ونيسى .

انشاء:

لغوى معنايى ديو نوى شى ايجاد اورامنځ ته كول دى،خوپه ادبى اصطلاح كى نورو‌ته‌په الفاظو ديو نوى فكروړاندى كولواوليكلو ته انشا ويل كيږى .

په عامه توگه انشا په دوه ډوله :

الف : نظم ب : نثر

دانشا ء پيلامه په دريو بڼو كيږى :

١- بى له كومى مقدمى اصلى مطلب ته داخليدل اوپه الفاظو دهغى څرگندول .

٢- اصلى مطلب ته ترداخليدو دمخه سريزه .

٣- له منځ يا آخرنه دمطلب پيل كول لكه په داستان كى.

دانشاء لپاره ادب پوهانو اوعلماو لاندينى ځانگړتياوې په گوته كړي دي : په پنځم مخ كې

دكتاب معرفي :

خلفاي راشدين

دكتاب نوم : خلفاى راشدين
ليكوال : استاد برهان الدين ربانى
ژباړن : شمس الرحمن شمس
نيټه :د ۱۳۷۰ هـ ش ورى
خپروونكى : دافغانستان داسلامى جمعيت دليكوالو اووينا والو ټولنه
كچه : ١٤× ٢١
دمخونو شمير :٦١

جهادگر

خلفاى راشدين دهغه كتاب نوم دى چى په دى وروستيو وختونو كى دجمعيت اسلامى دليكوالو اووينا والو دټولنى له خوا خپور شوى‌دغه كتاب چى دخلفاى راشدينو دوياړمن اوجهادى ژوند په هكله په لنډه خوږيره په زړه پورى اوخوږه ادبى ژبه ليكل شوى لـه ژبنى ښكلا مؤجز بيان اوليكنى عالي اسلوب سربيره يو داسى ارځښتناك اوقيمتى اثر گڼلى شى چى دهغى په ځلنده هنداره كى لـوسـتـونكى دخپل ژوند اوانسانى ارزښتونو ، اسلامى مكلفيتونو اوجايبو سراوصورت ډير ښه اوښكلى جوړولى شى .

داكتاب دمحترم استاد برهان الدين ربانى دهغو ځلورو مقالو مجموعه ده چى په ۱۳۵۲ لمريز كال كى دپيام حق مجله كى چى دمولانا سخيداد فائز ترمديريت لاندى خپريدله د"تربيت يافتگان مكتب اسلام"تر كليشى لاندى ليكلى اوپه پرله پسى توگه په هغه مجله كى خپرې شوى دي البته داستاد ربانى له هجرت وروسته داسلسله مولوى احمدگل تعقيب كړه اودڅور ترخونړى كودتا پورى دالړى روانه وه، ددغو مقالو مجموعه په ۱۳۵۹ هـ ش كال كى دجمعيت اسلامى دفرهنگى كميتى له خوا په جيبى بڼه خپره كړى شوه‌چى بيا يى پښتوژباړه دځوان او تاند ليكوال شمس الرحمن شمس له خوا په ميثاق خون مجله كى خپره او دادى اوس ديوى مجموعى په بڼه هم دچاپ ډگر ته راوتلى ده،داستاد ربانى په څير ديوه پياوړى ليكوال دليكنى پښتو ژباړه هغه هم دداسى وخت ليكنه چى سياست اوسياسى لوبو لادهغه پر ليكوالى اوادبى ذوق خپل شوم سيورى نه و غوړخولى په يقيناً له هغه حالات څخه په بشپړه توگه

په پنځم مخ كې

وضعه ديگرگون شوه...!

وضعه ديگرگون شوه شوروى کې کودتا سره
جوړه بدبينى شوه دمسكو له امريكـا سره

گرباچوف كيو تى خپل رژيم ته په چمبوكى ده — بل خواكودتا درژيم پاتى په تياروكى ده
ختم به نجيب شى دسياسى حل معماسره
جوړه بدبينى شوه دمسكو له امريكا سره

جوړشو شوروى ته كودتـانـه دبـيـزو پرهار — دواړه خواوى يو په بل كوى درانه گوزار
گرم ځميدان دجنگ له عينى مارشالاسره
جوړه بدبينى شوه دمسكو له امريكا سره

ژاړى نجيبيان چى به په كوم گرنگ كى پريوه ځى — وايى چيرى نه دمجاهد په لاس به كيوه ځى
اوس به شى معلوم چى سياسى حل وو دچاسره
جوړه بدبينى شوه دمسكـو له امريـكـا سره

زموږ دريغ جهاد دى شنده وى نور سياستونه تل — ځى مخ په قوت ترينه داريږى دولتونه تل
زرده چى تكربه شى مسكو له جينواپسره
جوړه بدبينى شوه دمسكو له امريكا سره

داتحولات دى چى جهاد نه زرغونيږى تل — چيرته چى دخداى دښمن وى دى به ذليل كيږى تل
شكرځاى خدايه طاقتـونه دى له متا سره
جوړه بدبينى شوه دمسكو له امريكا سره

اوس نجيب له داره شوروى ته تښتيداى نشى — بل خوامجاهد ته په كابل كى تم كيداى نشى
اى خادمه ټينگه رابطه كړه له الله سره
جوړه بدبينى شوه دمسكو له امريكا سره

مولوى خادم احمد

يادونه : داشعر په شوروى کې دكودتا په لومړى ورځ ويل شوى

چې ومې ليدل نوومې ليکل

محمد سرور قاطع

دريمه برخه

قدم په قدم

سرك په دواړه خوا دګوليو دلګيدو نښې نښانې ، سوځيدلي بوټي دموټر دسترګو درڼا په وړانګو کې ښکاره کيدل . لږه شيبه وروسته موږ د شپې په دوه نيمو بجو دشانزده مرکز ته چې دزرمت په آزاده سيمه کې موقيعت لري ورسيدو ، او دغلته دزړورومجاهدينو له خوا زموږ تود هر کلی وشنو وروسته دمرکز دنورو مجاهدينو سره يو ځای دسهار لمانځه ته پاځيدو لمونځ موداداکړ ورځ شوه مجاهدين دهری لوري دخپلو جهادي چارو دسرته رسولو او سمون په خاطر يوی خوابلی خوا ته په پوره اطمنان او باور اماده ليدل کيدل.د پنجشنبې ورځ داسد په لسمه نيټه دمحمد هاشم نومی عسکر چی په همدغه ورځ يی درژيم له قواو څخه مجاهدينو ته پناه راوړی وه زما ديوی پوښتنی په ځواب کې وويل : دعسکرو دتيښتی بهير دپخواپه شان ادامه لري هيڅوك نه غواړی په خپله خوښه عسکری وکړی ټول په زوردخپلو کورونو او کليو څخه نيول شوي او پوځی قطعاتو ته راليږل شوی دی هر يو هڅه کوی ، چی مجاهدينو سره يو ځای شی دواد موظيفينو دټولو باندنيو پوستو په شاوخوا کې ضد پرسونل ماينونه ځای پرځای کړی دی ترڅو دعسکرو دتيښتی مخنيوی وکړی ، نوموړی وايی دخوست تر وياړمنی فتحی وروسته په ګرديز کې پراته پوځی قطعاتو دمنسوبينو روحيه ډيره ټيټه ده او ټول وارخطا معلوميږی او په نن سباکې . دخپلی محتومی ماتی دشيبو رارسيدلو لاری څاری .

محمد هاشم په اخره کې دمجاهدينو د نيك سلوك او ښې رويې څخه خوښی ښکاره کوی او ځان نيکمرغه محسوسوی چی ددښمن له صف نه رابيل او مجاهدينو په صف کې ولاړدی .په همدغه شپه کې يوڅوارلس کلن مجاهد چی د حضرت عمر فاروق رض دغونډ دتوپچی ټولی چريکی قوماندان دی خپل نوم يی جنت خان وښود زما ديوی پوښتنی په ځواب کې وويل : کله چی دثور کودتا په نتيجه کې کمونستان دغلامانهٔ اقتدار څوکی ته ورسيدل او مجاهدينو يی په مقابل کې جهاد پيل کړی زه هم چی لږ رالوی شوم او په ځان وپوهيدم دجهاد مينه راسره پيداشوه توپك مي په اوږه کړاو مقدس جهاد مي پيل کړ ، دجهاد په دوران کې مي په لس ګونو بريمنو عملياتو کې برخه اخيستی ، فتحی او غنيمتونه مو په برخه شوی دی.زمادکورني يو شمير غړی په شهادت رسيدلی او په خپله دری ځله ټپی شوی يم ، خو تر هغی پوری چی په افغانستان کی اسلامي حکومت نه وی جوړ شوی ، خپل مقدس جهاد ته به ادامه ورکوم .

قوماندان جنت خان په ګرديز دګډو عملياتو او فتحی دځنډ په باب خپلو خبروکې وويل: دلوی خدای (ج) په مرسته په ګرديز دمجاهدينو بريد ډير اسانه او بی تکليفه دی زه فکر کوم دااتحاد په صورت کې به انشاالله په ډيرکم وخت کې فتحه دمجاهدينو په برخه شي.ماسپښين شو ، دچاپيريال دليدلو په نيت دقرارګاه څخه بهر ووتلم ، نژدی کليو او ديرو ته ورسيدم شو م ، هيڅ داسی کوم کورمی په نظر نه شو ، چی درژيم دبمبارد نه روغ پاتی وی حتی هيڅ داسی ديوال اوونی اوبوتی می ونه ليدل چی دکوچنيو اولويو توپونو په ګوليو نه وی سوری شوی ، دپرله پسی هوايی بريد له کبله خو زراعتی ځمکی کاملاً شاړی اوپه ويرانه بدلی شوی دی باغونه اوميوه داری ونی دوچيدو په حال کی ښکاريدی دافغانستان په وخت دماسپښين دری بجی اوپنځه څلويښت دقيقی وی چی ددرندو توپونو هيبت ناکه اوازونه می ترغوږشو ، معلومه شوه چی دابراهيم خيلواوخوتوه ، په سيمو دپرتو مجاهدينو دلوری ددښمن پرپوستو دتوپونو دندوکار جوړ کړشو ، دڼزی ددواړو خواو څخه دلمر تر لويدو پوری تداوم پيداکړ ، دمجاهدينو پدی ناڅاپی عملياتو کی ددښمن له قواودری تنه مړه اودوه سخت ټپيان کړل .

دسهار لس بجی اوپنځه ديرش دقيقی پوره کيدی چی دعمری غند دتوپچی قواو دتوپچی حملی په بدل کې دګرديز څخه ددښمن له لوری تقريبًا لس دقيقی په پرله پسی توګه داوراګان اونورو درندو توپونو ګولی دعمری غند دتوپچی قواوو په مورچلونو اوغاړوتوخندقو ووريدل ، تور دود جوړ شو ، خو دخدای (ج) په فضل مجاهدينو ته هيڅ مالی او ځانی تاوان ونه رسيد او داتلو مجاهدينو روحيه اواحساس لاپسی پياوړی ښکاريدو . «نوربيا»

په وينو سري ...

زما دسلام سره دهغه دفکرونو تال وشليداو مخ يی راواړوه :

هلکانو ! تاسی چانتی وتړی او توپك درسره واخلی اول بايد دماشومانو دخوندی کولوغم وکړو . او بياچی څه کيږی هغه به کيږی موږ دماشومانو دخوندی ساتلو لپاره « دری خولی » مناسب وګانه . دماښام په تياره کې مونږ له کوره ووتلو او د« دری خولی » پرخوار هی شوو . په لاره کې وړاندی وروسته روان ؤ حاجی صاحب بيا وويل : ډير ناوخته دی «څپری » کلی کې به شپه وکړو سبا به دمنزل لاره لند وو.

دشپی په تياره کې « څپری » کلی په پيچو مي ورنيغ شوودی کلی اوسيدونکی نيم کوره پراته ؤ، موږ دزيات مزل وروسته ديوی ګولی ډوډی او لږی دمی لپاره ديو اشنا کورته ورو‌ګرځيدو دشپی دچوپتيا دسکوت درند و ډزو کرنګاماتولو د « چونی » نه هرڅخوا توپونه ويشتل کيدل .

دغلته موډيره ناارامه شپه تيره کړه او سهار مو بيا حرکت وکړ اود « دری خولی » دکلی نه يوه بل کلی ته ورسيدو . دملحد رژيم له ډزو او طيارو له بمبارد څخه داځای هم ارام نه ؤ . سپوږمی ورو ورو دغرونو له جګو څوکو څخه سراپورته کاوه او دځمکی په مخ يی منګولی لګولی . مجاهدين ډلی ډلی دسنګرونو په لور روان ؤ ماشومانو ، ښځو او سپين ږيرو دکړيکو او توپونو د غرمبا په فضا کې دهجرت په لوريون پيل کړی ؤ.

په ټول کلی کې هيبت خپور ؤ دغرونو په سرو کې به کله کله پشنګونه جګ شول مازړه نازړه دهغوی دروازی مخی ته ځان ور ساوه ، دروازه مي وروټکوله ، اوچې دڅوك يی غږ می واوريد ، ځان مي ورو‌پيژاند ، ثمر ګل زما له غږ سره جوخت دروازه بيرته کړه ودانی ته ورننوتم دڅو شپو شوګيرو راهيسی می ايله داستراحت ځای پيداکړ دتيری شپی ټپيان می له ياده نه وتل خدای پوهيږی چی ترتری به څنګه رسيدلی وی دانور دټپی کيدو حالت له ځانه سره په مخه کړم ، داندېښنو په سمندر ورګډ شوم په ځان پوه نشوم چی څه وخت خوب وړی وم .

خوبو وخت ګورم چی چامی دسرپه ويښتانو لاس کيښود .

جګ شه داختر ورځ ده دغږ سره می سترګی وغړولی په شاوخوا غرونو باندی دلمر وړانګی خوری شوی وی دډيری ستومانی دلاسه می چايو ته هم زړه نه کيدو يوه پياله مي راواخيسته خو لامی دپيالی څخه غړوپ کړی نه ؤ چی دتوپونو درزامی ترغوږ شوه دتوپو درزا سره سم کلی دګوليو په سرو لمبو کی پټ شو دوړی اولوګی په ګډه دآسمان په لور پورته کيدل ، ددوړو اولوګيو سره دنورمحمد دوی له کوره دکړيکو بدرګه پورته شوه .

خوچی کله ډزی کراری شوی مجاهدينو دهغوی دکور خواته منډی کړی دکور په غولی کې دده وره لور غوټی اووړوکی زوی سيد يی په وينو ليت پيت پراته ؤ اودغوټی وړی چاچکی پخپلو وينو تکی سری شوی وی .

ادبی اصطلاحات ...

وضاحت ، صراحت ، انسجام ، سلاست ، اودژبی ګرامری اصولو اوقواعدو مراعات.ځينی ادب پوهان يی داسی ډلبندی کوی :تشريحی انشاء ، ترسيمی انشاء ، حکايتی انشاء ، او استدلالی انشاء

ادیب :- دغه کلمه دلغوی معنی له مخی په يوه شاعر ، ليکوال ، سخندان او سخن سنج شخص دلالت کوی اما په ادبی اصطلاح هغه چاته ويل کيږی چی دادبياتو په علم پوهيږی او ژوره مطالعه يی پکی کړی وی،شعر ويلا ی شی ، يا ادبی نثر ليکلای شی ، او دژبی فصاحت او بلاغت ولری .

فرهنګ (عميد ٤٠١مخ)

اولسي ادبيات :- اولسی ادبيات په پښتو ژبه کی شفاهی ادبياتو ته ويل کيږی او په عامه توګه دوه ډولونه لری :

١- نثری شفاهی ادبيات

٢- منظوم شفاهی ادبيات

اولسی ادبيات هغه ادبيات دی چی اولس کی خوله په خوله ګرځی او له يوه نسل څخه بل نسل ته په همدی توګه انتقاليږی .

په نثری شفاهی ادبياتو کې نکلونه ، لنډۍ ، اجتماعی او اخلاقی کيسی ، متلونه،محاوری ،فکاهيات او ....او دپښتو په منظومو شفاهی ادبياتو کی خاصی او عامی سندری شاملی دی چی هريوه به يی پخپل ځای دروپيژندل شی .

اولسی شاعر:-هغه شاعر ته ويل کيږی چی دپرګنو اوولسو نو تر منځ ژوند کوی ، زياتره اولسی شاعران نالوستی وګړی وی چی هريويی له ټولنی څخه دخپل برداشت ، او ذهنی ذکاوت له مخی داولسی، شاعری دخاصو فورمونوپه چوکاټ کی يې ټکانګې و اوزانو برابرشعرونه وايی . دغه ډول شاعری ډيرسوچه ، خوږه او دولسی ژوند ريښتنی عکاسی وی . ددغو شاعرانو شعرونه هم دنوراولسی ادب په څيرسينه په سينه له يوه نسل څخه بل ته ليږدی.

خلفاي راشدين ...

نه وی برخمنه چی استاد ددغی سلسلی دليکنی له پاره کوم داستانی اوادبی چوکاټ غوره کړيدی ، خو دښاغلی ژباړن له دی کمال څخه هم سترګی پټول ندی پکار چی هغه ترخپله وسه داکوشش کړی چی خپلی ژباړی ته هماغه الفاظ اوعبارات ومومی چی دپښتو محاوری سره سره داصل مطلب روح ته څه زيان ونه رسوی .

زما اصلی خبره دکتاب دصحافت په هکله ده چی ډيره خواشينوونکی ده،دکتاب دمتن کاغذ اخباری اوهغه هم ډير ورووست کاغذ نيول شوی، دوتنه يی هم سره لدی چی دجمعيت دنورو خپرو شويو کتابونو دعادت پر خلاف له ليمونشن څخه محرومه ده دکاغذدنوعيت له مخی هم ډيره لويدلی بڼه لری .

داکتاب سره لدی چی دخلفای راشدينو دوياړمن اومثالی ژوند ترجمانی اوعکاسی وړاندی کوی دجمعيت درهبر دليکنی په توګه يو بل امتياز هم لری خوله بده شامته چی دپښتو ژباړی يی داخواره خواری اويده ورځ پر برخه شويده که نه نو دجمعيت نور خپاره شوی کتابونه خو دصحافت کاغذ اورنګونو له مخی په اروپا کې دخپروشويو کتابونو سره سيالی کوی ليری به نه ځو داڅه موده مخکی چی دجمعيت دليکوالو داانجمن درئيس ښاغلی فاضل له خوا دليبيا دپوځی ديکتاتور معمر القذافی«کتاب سبز»په دری ژباړه اودانجمن له خوا چاپ شو هغه که څوك وګوری نو يقيناً به دچاپ اوصحافت په اړه ددغو ورونو دعالی ذوق تجربی اوکمال اعتراف وکړی ځکه «کتاب سبز» په داسی يوه لوړه سويه طبع شوی چی سړی دافکر نه شي کولی چی ګنی داکتاب په پاکستان کې چاپ شوی په داسی اهتمام چی کيدی شی کوم ناشراو خپروونکی دتفسير اوحديثو کتاب ته هم دومره پاملرنه ونه کړی .

په هر صورت دخلفای راشدين کتاب د جهاد په مطبوعاتی پانګه کې يوه ډيره قيمتی اضافه ده موږ ددغه کتاب دخپراوی له امله فرهنګی انجمن اوژباړن ته مبارکی وايو اوپدی لارکې دلازيات توفيق دعا ورته کوو .

دروس دري ورځنۍ ډرامه دنړیوال عکس العمل په هنداره کې

سید شهریار

دتیري اونۍ په اوږدو کې په روسیه کې یوه ناڅاپي ډرامایي تبدیلي دیوي کودتا په بڼه تیره شوه چې د نړیوالو نظرونه اوپاموته یې خپلې خواته جلب اوګرځول دغه ډرامه دروانې میاشتې داسد په ۲۸ نیټه پیل اوداسد په ۳۰ نیټه پای ته ورسیده دکومو کودتاچیانو لخوا چې دغه بې باکه کودتا شوې وه ظاهراً قوي معلومیدل خوپه حقیقت کې هیڅ هم نه ؤ

> دکمونستانو لاس په نامه نوکرانو دشام حافظ الاسد دهند ناراسیمهاراو دلیبیا قذافي اودعراق صدام حسین پدې کودتا له حده زیاته خوښي ښکاره کړه.

هیچا هم فکرنه کاوه چې دغه کودتاچیان به دومره زراوسمدلاسه له ماتې سره مخامخ شي ځکه پدغه کودتا کې دکې، جي، بي دمشر دګورباچوف دمرستیال ددفاع وزیر اودنورو لوړرتبه بنیادګروکمونستانو لاس ؤ چې دګورباچوف تخته یې چپه اودیو څو شیبو لپاره دواکمنۍ چوکۍ ته ورسیدل.

چوکۍ ته له رسیدو سمدستي وروسته یې یوه اعلامیه خپره کړه چې په اعلامیه کې یې دګورباچوف په ګلاسونسټ پالیسۍ اونورو دریځونو سخت ټکونه وکړل اونوموړی یې دبنیاد ګرو کمونستانو دښمن معرفي کړ اوویې ویل چې نوموړي دروسیې حیثیت له منځه وړی ؤ له ځانه یې دامریکا اونورو غربیانو غلام جوړکړی ؤ اوحتی دده دغو پالیسو له وجهې دروسي پوځ روحیات په ځمکه غورځیدلي ؤ نوموړ مجبورشو چې یو داسې اقدام وکړو چې روسیه دټوټه ټوټه کیدوڅخه وساتو.

اوورسره یې دشپږو میاشتو لپاره په روسیه کې داضطراري حالت اعلان هم وکړترڅو په ګوډیو باندې قابو راولي خو سمدستی ددوي په مقابل کې احتجاجي مظاهرې پیل شوې دوي دمظاهره چیانو دامیدو لپاره اعلان وکړ چې ګورباچوف ته یو څه مریضي ورپیښه شوې کله چې یې صحت ښه شي بیرته به واك وروسپارلی شي خو مظاهره چیانو ددوي دغه اعلان یو پلمه وګڼله اوویې ویل چې باید ګورباچوف له خارجي ډاکترانو سره ووینې اوکه نه نو اقتدار دې سمدلاسه بیرته وروسپارل شي دځنو خبرونو له مخې دروسیې په ځنو برخو کې دغه مظاهرې په وسله وال ټکرونو هم بدلې شوې چې دڅه ناڅه مرګ ژوبلې سبب وګرځیدی.

دراپاریدونکو ترشا دروسی فیدراسیون جمهور رئیس یلتسین اودروس پخوانی خارجه وزیر شیوارډ نادزې اوځنې نور دیموکراسي خوښوونکي قوتونه کوم چې دګورباچوف پخواني دښمنان ؤ ودریدل اودایې په ډاګه کړه چې دغلاله دروازې څخه دغه داقتدار وړی موږ دمشرتابه په صفت نشو پیژندلی ځکه دوي دجمهوریت قاتلان دي که چیرې داقتدار څخه ګوښه نشول نو موږ به په وسله وال مقاومت لاس پورې کړو.

ددې سره سم یلتسین خپل دبهرنو چارو وزیر په ناڅاپي توګه امریکاته ولیږه ترڅو په روانو حالاتو له امریکایانو سره خبرې وکړي اوخپل پلویان زیات کړي دیلتسین دغو هلو ځلو امریکا، فرانسې، جاپان، بریتانیې، المان او ځنو نورو غربي هیوادو ته یوڅه سکون اوارام وربابڼه که نه دامریکا له پښو څخه ځمکه تښتیدلې وه په نړۍ یې خپله واکمنۍ په خطر کې لیده که څه هم ګرد غربیان یې ترشا ولاړ وو.

ددغې کودتا په رامنځته کیدو سره بش له ګردو غربي مشرانوسره تلیفوني تماسونه ونیول خپل مشاورین یې راوبلل اودراتلونکي وضعې دسمولو لپاره په مشورو بوخت شول بش دغه کودتا د جمهوریت قتل اوبو ناوړه

> ددغې کودتا په رامنځته کیدو سره بش دګردو غربي هیوادوله مشرانو سره تلیفوني تماسونه ونیول خپل مشاورین یې راوبلل اودراتلونکي وضعې دسمولو لپاره په مشورو بوخت شول

عمل وباله دکودتاچیانو غندنه یې وکړه یلتسین ته یې دهرقسم کومک وعده ورکړه اوپه روسیه یې دخپلو کومکونو دبندولو اعلان وکړ ورسره جوخت دامریکا تابعینو بریتانیې، المان، فرانسې، جاپان اوځنو نورو په کلکه سره دامریکایې دریځ ملګرتیا وکړه اوپه وار، وار سره یې په روسیه باندې دخپلو مرستو بندیزونه اعلان کړل.

ددې ترڅنګه دکمونستانو لاس په نامه نوکرانو دشام حافظ الاسد دهند نسیمهاراودلیبیا معمرالقزافی اودعراق صدام حسین پدغه کودتا له حده زیاته خوښي ښکاره کړه دایې دوخت ستر ضرورت او دخلکو په زړه پورې غوښتنه وبلله دوي هر یوه خپلې بیلې بیلې مبارکۍ ورولیږلې دغه یې یو جرات مندانه اقدام وبللو او ورسره یې داهم ووېل چې اوس به په نړۍ کې توازن هم منځ ته راشي د توازن غږ.صدام حسین پورته کړ چاسره چې دکویت په شخړه کې روس له ډیرې بې وفایي څخه کار اخیستي ؤ نو هرومرو صدام حسین دګورباچوف په ګوښه کیدو خوښي ښکاره کوله چې ګوند ی اوس به مې لاړې تیرې شي خو کفري طاقتونو کله داسې ناپوهي کړیده ؟

په سباله ورځپاڼو داخبر خپور کړ چې دروسي نوي جمهور رئیس صدام حسین ته یو لیك لیږلې دي او پکې یې له نورو خبرو پرته داهم لیکلي ووچې نوې حکومت به دملګروملتو دګردو پریکړو دزړه داخلاصه ملګرتیا کوي، نو له هغې وروسته صدام پخپله خوله لاس کیښود:

ځنو نورو هیوادونو لکه چین، پاکستان، ایران دغه کودتا د روسانو کورنی معامله وبلله او دراتلونکي وخت په انتظار کې شول دا دهغو هیوادونو عکس العملونه چې دهر لحاظه پخپلو پښودریدلی او په لویو لویو طاقتونوکی شمیرل شویدي :دلته دروسانو اصلي دښمنان تش لاسي افغاني مجاهدین چې دمیړانې او نارینتوب زمزمې یې دنړۍ په هرلور محکومو قومونو ته دپاڅون او خلاصي ولولې او جذبې وربښې دغه کودتا ، یوه تړوکه وګڼله بلکې خوښي یې پرې هم څرګنده کړه چې دمذبذب ترګوښه کیدو وروسته

په یو ځل بیا دجهاد سنګرونه په ډیره لویه پیمانه او شدت سره نور هم تاوده شي دچل ول کیسې به ختمې شي زموږ دټول کیدو لپاره په کار اچول شوې تش په نامه سیاسي حل دسیسې او توطئې به په سیند لاهو شي ځکه دغه بنیادګرکموتستان به دسیاسي او سوله ایزحل څخه په ډاګه دمعرکې میدان ته راووځي او موږ به یو ځل بیاسرورروسانو ته خپلې سپینې بریښوونکې تورې وځلوو.

خومتاسفانه داسې ونشول هلته ډیرزړګورباچوف پلویان پدې بریالي شول چې غله کودتاچیان ونیسي او اقتدار بیرته ګورباچوف ته وسپاري ګورباچف هم دوهم ځل اقتدار له رسیدوسره سم دډیری مننې سره یلتسن دنورو زیاتو مراعاتو نه برخمن کړ او دشیوردنادزې او نورو پلویانوسره سره یې دغربي هیوادونه هم مننه وکړه او یقین یې ورکړ .چې زما اصلاحاتي پروګرامونه به نور هم مخ په وړاندې روان وي ورسره یې په عملي توګه دکمونیزم دخونړۍ ماڼۍ په نړ و لو لاس پورې کړاودهغه یلتسین مشورې یې دځان لپاره ضروري اولازمي وګڼلې کوم چې دکابل دګوډاګي رژیم سره یوڅه اختلافاً هم لري .خود هغو هیوادوپه باب چې دده په ګوښه کیدویې خوښي ښکاره کړې وه لاتر اوسه هیڅ هم نه دي ویلې چې دهغوی لپاره کوم دریځ ونیسي !

پدغه دري ورځنۍ ډرامه کې دهر چاهمت، میړانه، لاپې او دړکې په ډاګه شوې چې په څومره اوبوکې لامبو وهي ځکه ګور باچوف دوهم ځل واکمنۍ ته له رسیدو سره سم امریکا او ملګرویې په روسیه باندې پخپلو مرستو لګولی شوې بندیزونه لرې کړل او ورسره یې خوښي هم ښکاره کړه :مجاهدینو نړۍ ته یوځل بیاخپل همت وښود چې زموږ صرف او صرف په یوه الله (ج) توکل دې دنظامونو په بدلیدورابدلیدو زموږ هیڅوك له خپل هدف څخه نشي ګرځولی موږ به تر اخري سلګیو پورې پخپل دریځ کلك او پاخه ولاړ یو تر څو چې مو دلرغوني اسلامي هیواد افغانستان څخه دالحاد او فساد جرړې په تمامه معنا نه وي ویستلي او دخپل مجاهد ملت دهیلو او تقاضاوو سره سم موږ یوکې اسلامي حکومت نه وي جوړ کړی؟

په تیریسې:

موږ په افغانستان کې څه ولیدل؟

دنیول شوو روسي عسکرو خاطرې

دعوض الدین «صدیقي» ژباړه

هغه به دکارمل دپوځیانو له جملې ځنې ؤ یا به دهغوی جاسوس ؤ او زه به یې نیولم په دې خاطر نه ما دهغه دپوښتو ځواب ورکړ او نه دهغوی کلي ته داخل شوم دلږ دمې وروسته بلې خواته روان شوم تر اوږده مزل وروسته یو بل کلي مخې ته راغی، دلته مجاهدین موجودو، دمجاهدینو پهره دار کله چې زه دوسلې سره دځان خواته د راتګ په حال کې ولیدم پرمایې ډزې وکړې خو کله چې ماپه اشارو هغه وپوهاوه چې زه دښمن نه، دوست یم او دهغوی قوماندان سره یوځای کیدل غواړم هغه دخپل قوماندان په امر ډزې بندې کړې او په دې ډول دقوماندان «عبدالقدیر» «حنیف» سره زما لیدنه وشوه.

مجاهدین زما په راتګ ډیر خوشحاله ؤ ما فارسي خبرې نشوې کولې په دې خاطر مې لس ورځې ددې ژبې دزده کولو هلې ځلې وکړې او لږ څه مې زده کړه، ماکولی شول خپله غوښتنه بیان کړم او د هغوی په خبره وپوهیږم دمجاهدینو ددې ښې اخلاقو او محبت زما په ژوندکې انقلاب راپورته کړ، زه حیران وم چې په نړۍ کې داسې خلك هم شته چې دخپلو وینو تږي قوم افراد و سره دومره دمحبت او شفقت ډك برخورد کوي او د انتقام او نفرت پرځای هغوي په خپله غیرتکې نیسي د (۱۹۸۳) کال دجون دمیاشتې (۱۶) زما لپاره یوه نه هیریدونکې روځ ده په دې ورځ مې دکائناتو تر ټولو لوی صداقت ومانه او دقوماندان «حنیف» په لاسونو مسلمان شوم هغه زما اسلامي نوم «عبدالله» کیښوده.

«سکورانی» وویل: مااسلام په دې خاطر ومانه چې لاروې یې پرظالمانو هم ظلم نه کوي په داسې حال کې چې روسي پوځ په مظلومانو هم ظلم کوي دروسانو ظلمونو دبیانولو په ترڅ کې هغه وویل:

په «تاشقند» نومې پوسته کې چې له ما مخکې دټانك کوم قوماندان ؤ دهغه عادت ؤ چې چیرې به یې په کوم کلي کې نوړی یااور تر نظره راغې په هغوي به یې ډزې کولې پریوه کلي کې دډزوله امله دوه ښځې مړې او دیوه ماشوم پښه غوڅه شوه ددې ښځو میړونه د «پرچم» ګوند لوړ رتبه غړي ؤ هغوي دشکایت لپاره په «فیض اباد» کې دروسانو پوځې مشرانو ته ورغلل او هغوي داصاحب منصب تبدیل کړ او دهغه پرځای یې زه وټاکلم په دې پوسته‌کې زمالیدنه دیوه داسې روسي صاحب منصب سره وشوه چې دخدمت دوره یې پای ته رسیدلې وه او بیرته خپل هیواد ته ستنیده، هغه به ویل، پخواني قوماندان به دماشومانوله وژلو خوند اخیسته او چې کله به یې چیغې وهلې منډ ې به یې وهلې او لویدل به لابه یې خوند اخیسته. هغه بد بخت به ځنې وخت یواځې دخوند لپاره ماشومان نیول او هغوی به یې په بیلا بیلو ډولو نو وژل یوه بل لوړ رتبه صاحب منصب وویل! کله چې موږ یوه کلي ته دعملیاتو لپاره لاړو موږ ته یې دماشومانو، ښځو او سپین ږیرو دوژلو امر راکړ پدې خاطر چې هغه ته معلومه وه چې ټولو ځوانانو وسلې اخیستې او له مجاهدینو سره یو ځای شوې موږ به چې کله کلي ته داخل شو هیڅ ژوندي به تر نظر نه راته

«نوربیا»

زموږ جهادي پاڅون د روسي استعمار ...

خوسره ددې ټولو دخدای پاک په فضل سره خوست دروژې په مبارکه میاشت کې فتحه شو اوداډیره مهمه او لويه فتحه وه ځکه خوست ډیر مهم ځای وُ .
ددې فتحې نه وروسته په تیرو دوو میاشتو کې ۱۸ نورمرکزونه فتح شول دخدای پاک په فضل زموږ فتوحات جریان لري که څه هم دکابل رژیم ډیرې ورانوونکې وژونکې روسي وسلې لکه سکډ میزائیل اونور پر موږ استعمالوي چې تراوسه یې نژدې دری زره سکډ پر بې گناه خلکو ویشتلي دي .
موږ دسکډ په مقابل کې یا ددښمن دنورې وسلې لکه طیارې په مقابل کې داسې وسلې نه لرو چې دهغوی دوحشیانه حملو څخه دفاع پرې وکړو موږ دسکډ په مقابل کې صبر کوو پدې اساس زموږ زیانونه زیات شوي دي اوتراوسه پورې زموږ نه ۱.٦ ملیونه شهیدان شوي دي ډیر کسان

معیوب شوي دي ، اوپه سلگونو مدرسې ، جوماتونه ، کورونه وران شوي دي ، فصلونه سوزول شوي دي داټول هغه فشارونه دي چې موږ دخپل قوي ایمان اودخدای دنصرت اوتائید په یقین لرلو سره ورسره مخامخ شوي یوو اوپه ډیر زغم مودهغې مقابله کړي .
لدې فشارونو اودسایسوسره دجهاد د دښمنانو داتبلیغات دي چې گنې ترشا امریکا ولاړه ده.چې دابالکل له حقیقت څخه لیرې خبره ده زموږ په صفونو کې هیڅ امریکایی اوغیر امریکایی فرد وجود نلري اوزموږ زیاتره وسلې له روسانو څخه په غنیمت نیول شوي وسلې دي نو که چیرې څوك په دې خبرو کې شك کوي هغه دې په خپله راشي اونژدې څخه دې واقعیت وگوري زموږ سنگرونه او جبهې دې وگوري حتیٰ دبین الملل هیئت هم کولی شي چې راشي او زموږ صفونه اوسنگرونه وگوري همدارنگه کولای شي چې زموږ ددفترونه ویدیویي فلمونه ترلاسه کړي او وبې

گوري چې په دې جگړو کې څوك برخه لري اوڅه ډول وسلې استعمالیږي .
داټول دڅه دپاره ؟
روسان په هره میاشت کې له ۳۵۰ ملیونو ډالرو څخه تر ٤۰۰ ملیون ډالرو پورې دکابل دررژیم سره مرسته کوي .
روسان داسې فکر کوي چې کمونستي حکومت چې ددوی گوډاگی رژیم دی دابه ددوی دامنیت ساتندوی وي اوکه چیرې دمجاهدینو حکومت جوړ شي نودابه دوی ته داخلي مشکلات راپیدا کړي خصوصاً دروسي تر تسلط لاندې په اسلامي جمهوریتونو کې اوبیا په دې خاصو شرائطو کې چې په روسیه کې داخلي کشمکشونه اوجنجالونه خورا زیات دي اودهرې خوانه دآزادی غوښتنې اوازونه پورته شوي دي .
الحاج حقاني وویل : دروسي تر تسلط لاندې اسلامي جمهوریتونه اودافغانستان

> دحیرانتیا وړخبره داده چې روسان کوښښ کوي دکمونست گوند چې دوطن گوند په نامه یادیږي ، دافغانستان په راتلونکي کې دبرخې حق ولري اوپه انتخاباتو کې گډون وکړي

مسلمانان په ډیرو برخو کې سره یو دي چې له هغې جملې نه دین ، ژبه ، قوم او ... دی .
دتاتار قوم ، قازاقستان ، تاجکستان ، اذربائیجان ارمنستان ، داټول دافغانستان گاونډیان دي داټول دبخارا اوثمر قند په نامه یادیدل اودلته یو وخت اسلامي تمدن اوفرهنگ ډیر زیات پرمختگ کړی وُ .
پر افغانستان دروسانو له تیري اودمجاهدینو له مقاومت سره پدغو سیمو کې اسلامي جذبات راوپاریدل او دغو سیمو ته دمجاهدینو دفعالیتونو اوخپرونو دنفوذ لارې بیرته شوې اوزیاتره افغانانو وکولای شول چې دقرآنکریم نسخې چې په ازبکي ، تاجکي ، روسي ، ترکمني اوفارسي ژبو ترجمه شوي وې هلته ورسوي اوتوزیع یې کړي په دې کار کې نه یواځې افغانانو برخه واخیسته بلکه بعضی روسي عسکرو هم داکار وکړ چې ځینو به یې دپیسو دترلاسه کولو دپاره او ځینو به دیوه پاك احساس له مخی دقرآن

پاك نسخې روسیې ته لیږلې اویا به یې له ځان سره وړلې .
له همدې ځایه وه چې دکمونیزم پرضد دروسیې په دننه هم خوځښتونه رامنځ ته شول او روسي کمونستان یې له سخت گواښ سره مخامخ کړل .
محترم حقاني صاحب دخپلو خبرو په ترڅ کې وویل : روسان دکابل دررژیم سره ډیره زیاته مرسته کوي ځکه هغوی په افغانستان کې داسلامي حکومت له قیام نه ډیرزیات ویریږي.روسان نور استعماري مقاصد هم لري چې دهغې دپاره مذبوحانه هلې ځلې کوي چې موږ په لنډه توگه هغوی ته اشاره کوو .
اول – دوی غواړي چې مجاهدین دکابل دررژیم سره په پرله پسې جنگونو مشغول کړي ، او یایې په داخلي جنگونو بوخت کړي یاداچې دسیاسي حل خبرې چه دملگرو ملتوتوله خوامطرح کیږي په دې مسائلو مجاهدین مصروف کړي اوله اساسي اهدافو څخه یې لیرې وساتي .
دویم – روسان غواړي چې دملگروملتونومؤسسه دوی ته تضمین ورکړي . چه افغانان به دروسیې په داخلي مسائلو کې گوتې نه وهي او داکار د دوی په فکر هغه وخت کیدای شي چې په افغانستان کې په اصطلاح یو وسیع البنیاده حکومت جوړشي چې په هغه کې کمونستان هم په دولتي قدرت کې شرکت ولري او روابط یې دروسیې سره ښه وي لکه چې دکابل اوسنی

رژیم یې دهغوی سره لري .
روسان دې مقصد ته درسیدوپه خاطر پرمجاهدینو فشار راولي داکاردوی دامریکا او بعضې اسلامي دولتونو په ذریعه ترسره کول غواړي او دا دولتونه داسې دلائل وړاندې کوي چې گویا داقضیه دوامداره شوه دجنگ په ذریعه نه حل کیږي بلکه دسیاسي حل له لارې باید په دې اړه پرمختگ وشي .

حقاني صاحب وویل: داڅنگه حل دی ؟ هغه حل چه دروسیې او دکابل رژیم داهدافو سره یودی ؟ که چیرته مونږ دغه شرطونه قبول کړو یعنې وسیع البنیاده حکومت جوړ کړو او ... نو ولې مونږ دادولس کاله جنگ وکړ ؟او ولې مو دومره قربانۍ ورکړې ؟ د وسیع البنیاده حکومت مطلب همدادی چې دکابل رژیم ئې دجهاد دشروع نه راپدیخوا غواړي . ځکه خو پدې بڼه سیاسي حل زمونږ په نظر مردود او غیر عملي دی .
لیکن هغه سیاسي حل چې دهغې پواسطه په افغانستان کې اسلامي حکومت جوړیږي په هغه مونږ راضي یو او زموږ دمنلو وړدی . نو په هغه وخت کې به موږ دافغانستان کمونستان چې زمونږ سره جنگیدلي دي پدې شرط عفو کړو چې هغوی اسلام ته رجوع وکړي او توبه وباسي .
محترم حقاني صاحب وویل: دحیرانتیا وړ خبره داده چې روسان کوشش کوي چې کمونست گوند چې اوس د«وطن گوند » په نامه یادیږي دافغانستان په راتلونکي کې دبرخې حق ولري او په انتخاباتوکې دې گډون وکړي .
خوښایي ووایو چې دغه گوند دروسي تیرې بقایا او پاتې شونې گڼلی شي دهغه تیرې بقایا چې نتیجه یې دهیواد بربادي مرگ ژوبله او نور زیات زیانونه وو نوپه کوم منطق دداسې خلکو قبلول یووار بیا دمملکت په اداره کې امکان لري ؟دایو مردود

> دسیاسي حل طرحه یوه له هغو خطرونو اوگواښونو څخه ده چې موږ ته متوجه دي په دې طرحه کې دنړۍ ډیر دولتونه شریك دي اوغواړي چې دخپل ټول قوت سره موږ دخپل فشار لاندې راولي

او غیر مقبول کاردی ولوکه په دې باندې ځینې دولتونه راضي شوي هم وي توطئې او نیرنگونه دجهاد ثمرې دشنډولو دپاره ډیر په شدت جریان لري او دتعجب خبره داده چې پدې دسیسو کې هغه هیوادونه هم برخه لري چې مونږ گمان کاوه دازمونږ دوستان او دجهادحامیان دي مونږ ددې دسیسوپه خطرونو ښه پوهیږو، خو دخدای (ج) په نصرت باندې متیقین یوو ځکه موږدخدای (ج) مرسته او تائید له اولې ورځې نه چې له مونږ سره هیڅ هم نه وو دسرپه سترگو لیدلي او زمونږ په لاس یې روسي غوندې طاقت ته ماته ورکړې ده .

په روس کې وروستیو ډراماتیکو...

،جی ، بی دخپل اقتدار اوتسلط لاندې راوستلې .
گورباچوف یلتسین اونور ټول هغه سیاسي اودولتي اشخاص چې ظاهراً داوسنیو سیاسي جریاناتو په راُس کې قرار لري ، دروسانو په همدغه کمونست گوند کې ښوونه اوروزنه لیدلي اودروسانو دکمونست گوند ترټولو ښوغړیو په نوم دغو مقامونو ته رسیدلي.یلتسین ترپروسږکال اوگورباچوف ترپرون پورې دهمدې کمونست گوند ترټولو فعال غړي ووکوم چې دوی اوس ورته دجنایت کار گوند خطا کوي دوی په دې اړوند ربښتیا وایي خو یوازې دانه وایي چې دنومړي گوند په واسطه سره په ټولو کړیو جنایاتو کې دوی هم شامل دي .
دوی اوددوی انډیوالان ددموکراسی ، ملتونواوولسونو ته دخپلواکی دورکولو اواقتصادي اصلاحاتو دهغې جملې څخه دخصوصي مالکیت منځ ته راوستل اوآزاد بازار ایجادولو ناري سورې وهي خوپه دې شپږو کالونو کې کمونستي اقتصادي مالکیت پخپل ځای پاتې شوی اوغیر روسي جمهوریتونواوود استعمار لاندی ټولو ملتونو اوولسونو ته په یوه ورځ کی هم آزادی ورښلی شي خوبیا هم داحقیقت باید له یاده ونه باسو چې خپلواکي په زور اخیستل کیږي اوتراوسه پورې کوم ملت اوقوم ته چانه ده بخشش کړې او روسي کمونستان به یې هم په ربښتیني ډول ورته بخشش نکړي .
همدااوس څو ورځې مخکې دروسانو کمونست گوند ړنگ اعلان شو خوډیر زر به همداجنایتکاره کمونستان دمختلفو گوندونو اوډول ډول غولوونکونومونو تر پردې لاندې دولسونواوملتونو دښکیلاك اوزبیښناك بخاطر راڅرگند شي دوی هڅه کوي چې دکمونست نوم له ځانونه لیرې کړي ځکه چې هم په روس اوهم په ټوله نړۍ کې کمونستان سخت منفور شوي دي. دوی به ددموکرات سوسیالیست جمهور ی خواه اودې ته ورته نور نومونه دځانواوگوندونو لپاره انتخاب کړي خو څرنگه چې نوم ماهیت ته تغیر نه شي ورکولای په همدې ډول سره ترڅو چې ددوی تراستعمار لاندې هیوادونو ته خپلواکي ورنکړي اوپه اقتصادي ساحه کې بنسټیز تغیرات رامنځ ته نکړي یعنې کمونستي اقتصاد په غیر کمونستي اقتصاد (په پراخه اندازه دخصوصي مالکیت درلودو ته اجازه ورکول) تبدیل نکړي اوپه پراخه پیمانه دآزاد بازار بنیادونه جوړاوټینگ نکړي تش په نوم دکمونست گوند ړنگیدل دکمونیزم دړنگیدو مفهوم په هیڅ صورت نشي افاده کولای .
په روس کې دوروستی کودتاناکامیدو څخه دری ورځې وروسته دروسي کمونستي خونړۍ امپراطورۍ تر استعمار لاندې ټولو جمهوریتونو ټول واك داصلی روسانو یعنې دسپینې روسیې جمهوریت چې ظاهراً یې یلتسین په راُس کې قرار لري ونیوه داپه دې مفهوم تعبیریدای شي چې که پرون دروسي کمونستي امپراطورۍ په راُس کې په یوې کمې فیصدی سره دغیر روسي جمهوریتونو اوسیلونکو ته هم برخه ورکړل شوې وه اما نن یو ځل بیا دیوه سره ټول سیاسي قدرت سوچه روسانو په خپل لاس کې متمرکز کړ.
په نتیجه کې باید وویل شي چې په روس کې لاتراوسه پورې دکمونیزم بنیادونه نه دي نړول شوي او که فرضاً په دغه امپراطورۍ کې په ربښتیني ډول سره کمونیزم ړنگ اوله منځه یووړل شي بیاهم دروسانو استعماري سیاست پخپل ځای باقي پاتې کیږي اودسور ، تور اویرگ استعمار ماهیت یو اوهمغه دولسونو اوملتونو دزبیښناك اوښکیلاك څخه بل شی ترې لاس ته نشي راتلای اودروس ډراماتیك تغیرات به دافغانستان دمسلمان ولس سره ددوی داسلامي خاورې په خپلواکه کولو کې مرسته ونکړي پس باید دافغانستان ټول مجاهدین اومسلمانان په یوه آواز اوکلك یووالي سره داسلام اوخپلې اسلامي خاورې دخپلواکی په خاطر خپل جهادي صفونه لاپیاوړي کړي .

ددری اړخیزو خبرو اترو دوهم پړاو اودبیلابیلو ...

اوس په داسی حال کی چی هغه ټاکل شوی نیټه په رارسیدو ده اولازمه ده چی په خبرو کی شاملی خواوی باید دګډون کولو لپاره خپل چمتوالی څرګند کړی .

ترکومه چی خبره په دغه غونډه کی دمجاهدینو په ګډون پوری اړه لری ، داسی ښکاری چی جهادی ځواکونه داځل بیا هم په خبرو اترو کی دبرخی اخیستنی لپاره ځانګړی دریځ او طرحه نلری تراوسه یو شمیر جهادی تنظیمونو هلته دورتګ په اړه خپل چمتوالی ښودلی ، ځینو هلته دګډون اودخبرو اترو دلړۍ دجاری ساتلو لپاره یو لړ پیشنهادونه اوطرحی وړاندی کړی اوځنو بیا دمطلق رد ځواب ورکړی اودغه خبری یی بی اغیزی اوبی ګټی بللی دی .

داچی ددغو خبرو اترو دلړۍ پیل کولو اوجاری ساتلو ترشاڅوك څه ډول اهداف لری ؟ اوآیا داخبری ترکومه حده دافغانستان دقضیی دسیاسی حل دلارو چارو په پلټنه اوموندنه کی اغیزمنی ثابتی شی،مجاهدینو ته به یی څه اوڅومره ګټه ورسیږی اوکور به هیوادونه به ترکومه دخپلو اهدافو په لاس ته راوړلو کی بریالی شی؟ داهغه پوښتنی دی چی دوخت په تیریدو اودحقایقو درابرسیره کیدو په نتیجه کی ځوابیدای شی دلته موږ اوس پر هغوڅه نه وایو ، یوازی دجهادی قیادتونو او ځواکونو دسیاسی دریځ دجلاوالی خبره کوو.

دجهاد په تیرو څه دپاسه دیارلس کلونو کی په سیاسی ډګر کی دجلا جلا دریځونو شته والی په نړیواله سطحه زموږ دپاڅون پرستیږ ته دکتنی وړ زیان وراړولی دی .

اودجهاد نظامی ډګر هم تری بی اغیزی نه دی پاتی شوی او زموږ په مجاهد ملت یی دنهیلی اومایوسی فضا رامنځ ته کړی ده اودالړۍ اوس هم روانه ده .

دجهاد په تیرو کلونو کی چی کله هم په نړیواله سطحه په غونډو کنفرانسونوکی دمجاهدینو دنمایندګی کولو مسله مطرح شوی اودالړتیا پیښه شوی چی هلته دی یوڅوك دمجاهدینو نمایندګی وکړی لومړی خو هلته په ورتګ اونه ورتګ،برخی اخیستلو اونه اخیستلو صفونه جلاشوی اوهرچا بیل بیل دریځونه نیولی دی اوبیا چی دیوهیئت اونماینده لیږلو ته اړوتی دی دیو نماینده په ځای هری ډلی اوتنظیم خپل استاځی ورلیږلی ، اوهلته پرته له دی چی دافغانستان دټول مجاهد ملت نمایندګی وکړی ترزیاته حده دخپلی ډلی اوتنظیم په پلوی دریځ نیول شوی اوهرچا خپله نمایندګی کړی،نه دټولو مجاهدینو ....

هره پریکړه فیصله اوطرحه چی دافغانستان دقضیی دحل په اړه رامخی ته شوی سره له دی چی ټول مجاهد ملت ته یی زیانونه یو ډول متوجه ووخو دجهادي قیادتونو په سطحه دهغه په وړاندي بیلابیل دریځونه نیول شوي دي که دجینوا معاهده وه اوکه دملګرو ملتونو پنځه فقریزه طرحه اوکه یا دوه اړخیزوخبرواترو داوروستنی پړاو دافغانستان دجهاد په اړه دسیسی اوتوطیی دی اوکه په کوم بل نیت ... ټولو مجاهدینو ته یی یو ډول زیان اوګټه متوجه ده،نوبیا جهادی قیادتونه ولی په یوه اوبل ملحوظ ځینی رد اوځینی بیاله هغی سره دتائید په حال کی واقع کیږی.دافغانستان دقضیی په اړه په نړیوالو غونډو کنفرانسونواودخبرو اترو په لړکی له برخی اخیستنی ترمخه باید دجهادی قیادتونو ترمنځ دغه دنظر اختلاف اودجلا جلاصفونو اوبیلو بیلو دریځونو مسله حل وی اوکه داسی ونشی په دغو غونډواوخبرواترو کی برخه اخیستنه به زموږ دجهاد سیاسی ډګر ته هیڅ ګټه ونلری ، بلکه نړیوالو ته به زموږ جلا جلا دریځونه اوبیل بیل صفونه اوموقفونه داوږپه ګوته کړی چی دافغانستان دمسئلی په اړه مجاهدین نه کومه ځانګړی طرحه لری اونه ثابت دریځ اوس نو په جهادی قیادتونو اومشرانو ده چی دبیلو بیلو ملحوظاتو له مخی له جلا جلا دریځونو اوپه دی اړوند له اختلافاتو نه تیرشی اودالهی احکامو اونبوي ارشاداتو په رڼا کی داسی واحد اوثابت دریځ غوره کړی چی هغه زموږ دمجاهد ملت غوښتنه او زموږ دجهاد دبری متضمن وی .

ومن الله التوفیق

دفاریاب دخواجه ناموسی ولسوالی دمجاهدینو په لاس فتحه شوه

میډیا دفاریاب څخه په یوه رپوټ کی وایی چی مجاهدینو په یوه پراخ تعرضی برید کی دخواجه ناموسی ولسوالی دکابل رژیم دملیشه قواو دتسلط څخه داسد په ۲۸ مه نیټه ازاده کړی چی په نتیجه کی درشید دوستم دملیشی ۱۰۰ تنه افراد وژل شوی اوبیا ژوبل شوی اوباقی قواوی دمیمنی مرکز ته تښتیدلی دی .

مجاهدینو په دی جګړه کی یو مقدار وسلی او نظامی مواد ولجه او ۵ عرادی ټانکونه دسپرلیو سره دجګړی په وخت داور لمبه کړیدی .

دخبر مطابق په دی سخته جګړه کی دمجاهدینو یو قوماندان د ۱۵ تنو مجاهدینو سره درژیم دبمباردمان په اثر شهیدان او کلیوالو ته زیات مالی تاوان اوړیدلی دی .

خبر ځای په یوه بل رپوټ کی وویل چی مجاهدینو دجمعه بازار پر پوستو باندی بریدونه پیل کړی چی په نتیجه کی دملیشه دوه تنه قوماندانان او ۱٦ تنه افراد وژل شوی اوهم یو شمیر سنګرونه یی ویجاړ شویدی .

همدارنګه مجاهدینو په یوه بله حمله کی دشرین تګاب ولسوالی دجمعه بازار دملیشه یو قوماندان د ۱۰ تنو ملیشو سره وژلی اویو شمیر نور یی ټپیان کړیدی .

دکابل هوایی ډګر دالوتکو دپروازونو په مخ بند شوی

په خورد کابل اونورو نظامی تاسیساتو کی درژیم دقواو نه ۱۲۰ تنه وژل شوی

کابل ، میډیا :

یو جهادی خبر ځای دکابل ولایت څخه میډیا ته دکابل ولایت دمخکینی جګړی په هکله په نوی رسیدلی رپوټونو کی وایی چی دکابل ولایت دجنوب ختیځی حوزی دشورا مجاهدینو دکابل رژیم دخورد کابل علاقه داری په مرکزونو دخواجه رواش په هوایی ډګر اوڅلورمی اوپنځلسمی زرهدارو قواو باندی چی کومه پراخه حمله چی په ګلبرستیوګی پیل کړی وه په نتیجه کی دخواجه رواش هوایی ډګر دالوتکو دپروازونو په مخ بند شوی او یواځی الوتکو دبګرام دهوایی ډګر څخه الوتنی کولی .

خبر زیاتوی چی مجاهدینو داسد د۲٤ ام سهار تر۴.۳۰ بجو پوری دسکر توغوندی اوراکټونه په ذکرشوو نظامی تأسیساتو باندی ویشتلی چی په نتیجه کی درژیم دقواو نه ۱۲۰ تنه عسکراوصاحب منصبان وژل شوی اویو شمیر نور سخت ژوبل شوی ۵ عرادی ټانکونه او ۱۰ نظامی موټر داور لمبه شویدی.

درپوټ مطابق دکمونستی رژیم دقواو ۲۰ میله درندی وسلی تباه اوهم دخورد کابل دچاروازګی ، ګوره خوران ، ملنګ اوغزګی د۱۸ تباه شوو پوستو څخه یو شمیر زیات نظامی مهمات په غنیمت نیول شوی دی .

خبرځای وویل چی درژیم جیټ الوتکو دمجاهدینو څخه دغو اخیستلو لپاره تقریبا ۲۰۰ واری دمجاهدینو دچکری ، ملایان ، جلغوزی ، نورا ، قطاره اومورچکی تنګی مرکزونه اوکلی سخت بمباری کړی چی پکی ٤ تنه مجاهدین شهیدان او دټپیانو شمیر ۱۸ تنو ته رسیدلی خودکلیوالو دتلفاتو په هکله مفصل معلومات لاندی رارسیدلی .

په ګرشك کی دمجاهدینو اورژیم دقواو ترمنځ نښتی

هلمند :

میډیا دهلمند ولایت څخه رپوټ ورکړی چی داسد په ۲۵ مه نیټه مجاهدینو دپرله پسی بریدونو په اثر دهلمند ولایت دګرشك په ولسوالی کی دکندهار هرات دلویی لاری دڅارنی څلور امنیتی کمربندی پوستی فتح کړی اودرژیم قواو ته یی درانده ځانی اومالی تاوان اړولی دی .

درپوټ مطابق پدغه حمله کی دکمونستی رژیم دمتقابلو ډزو په واسطه ۳۵تنه مجاهدین شهیدان او ۹ نور ټپیان شوی دی .

همدارنګه په کویټی کی دمیډیا نمایندګی دهلمند له ولایت نه رپوټ ورکړی چی مجاهدینو داسد په ۲۵مه نیټه دهوایی ضد توپونو ډزو سره دګرشك دولسوالی په مربوطاتو کی دکابل رژیم یوه الوتکه ځمکی ته غورزولی ده .

هیئت تحریر ترنظر لاندی
مکاتباتي پته
پوست بکس (۱۰۳۳)
یونیورستي ټاون پیښور
تیلفون : ... ۸۱۲۲۵۱

دبګرام په هوایی ډګر کی دمهماتو یوه ډیپو وسوځول شوه

بګرام ، میډیا :

دمجاهدینو یو خبر ځای دپروان له ولایت نه رپوټ ورکړچی مجاهدینو داسد په ۲۵مه نیټه ددغه ولایت دبګرام ولسوالی پوری مربوط دقلعه بلند په سیمه کی دکابل رژیم یو تعرضی برید چی دمجاهدینو پر مرکزونو یی کړی وه دزیات مالی تاوانونو اړولو سره له سختی ماتی سره مخامخ کړی .

رپوټ زیاتوی چی پدی پنځه ساعته جګړه کی درژیم له قواو نه څلور تنه دخاد غړی وژل شوی .

درپوټ له مخی دکابل رژیم دتوپچی قواو دمتقابله ډزو په اثر په نوموړی سیمه کی دری تنه کلیوال شهیدان یو شمیر ټپیان اوڅو کورونه ویجاړشوی دی .

همدارنګه دپروان ولایت دکوه‌صافی څخه رپوټ ورکړل شوی چی مجاهدینو داسد دمیاشتی په ۲۵ نیټه دبګرام په هوایی ډګر ددرنو وسلو ډزی وکړی چی په نتیجه کی درژیم دمهماتو یوه ډیپوداور لمبه اوله منځه تللی ده .

رپوټ وایی چی په دی پیښه کی درژیم ۳۰ تنه عسکروژل شوی او ۳ عرادی ټانکونه ویجاړشوی دی .

په رپوټ کی ویل شوی چی رژیم دمجاهدینو څخه دغچ اخیستلو په خاطر په کوه صافی کی دمجاهدینو په مرکزونوهوایی بریدوکړچی دهغی په اثر ٤ تنه مجاهدین ټپیان شوی اوبمباری اوس هم دوام لری .

مشوره نجیب به وابستگانش

نجیب رئیس رژیم کابل به بسیاری از وابستگانش مشوره خروج ازکشور وفرار به غرب راداده است

خبر نگار اعزامی میدیا که تازه از کابل به پشاور امده ،ازقول متعلقین نجیب رئیس حکومت کمونست کابل خبر میدهد که وی اخیراً به عده‌ٔ ازاقارب نزدیك خویش مشوره داده است ، تابادرنظر داشت وضع ناهنجار رژیمش از کشور خارج شده به کشور های امریکا واروپا پناه ببرند .

طبق راپور وی به انها همچنان گفته است اشیای منقول وغیر منقول شانرا هرچه زودترفروخته به کشورهای مورد نظر بروند .

وی هشدار داده است درصورت عدم موجودیت وی انان اسیب پذیر بوده ، مورد انتقام مردم قرار خواهند گرفت .

دسیدکیان دملیشه و څخه ۱۸۰ تنه مجاهدینو ته تسلیم شول

بغلان ، میډیا :

دبغلان ولایت څخه په یوه رپوټ کی ویل شوی چی مجاهدینو دبغلان ولایت دپلخمری ولسوالی دمرکز په پوستو باندی یو تعرضی برید وکړ چی په نتیجه کی رژیم ته دسراومال دروند تاوان اوړیدلی دی همدارنګه دقوماندان عصمت په مشری دکیان بدنامی ملیشی ۱۸۰ تنه دوسلو سره مجاهدینو ته تسلیم شوی دی.

درپوټ له مخی اوس دپلخمری دولسوالی په شاوخوا پوستو اودکیان ددری ملیشه‌ؤ په پوستو دمجاهدینو درانده بریدونه دوام لری .

په میدانښار کی دمجاهدینو عملیات دوام لری

میدانښار ، میډیا :

دوردګو او میدان ولایت یوه جهادی خبر ځای میډیا ته رپوټ ورکړی چی مجاهدینو داسد په ۲۸ مه نیټه دمیدانښار دپل سرخ شاه کابل ، اوسپین ورسك ، په سیمو کی دمزدور رژیم امنیتی پوستی تربرید لاندی ونیولی چی درژیم ۳ تنه پلویان وژل شوی ، ۸ تنه زخمیان او اته نور په اسارت نیول شوی .

خبر زیاتوی چی پدی برید کی ددښمن دوه زغره وال ټانکونه او دمهماتو یوه ډیپو سوځول شوی دی .

خبرونه وایی چی دمزدور رژیم هوایی قواو داسد په ۱٦ مه او ۱۹ مه نیټه دمیدانښار ددرانی سیمه او چك ولسوالی بازار ، تربرید لاندی نیولی چی دخلکو یوشمیر کورونه ړنګ اویوشمیر بی ګناه کلیوال په شهادت ورسیدل ، دیوه بل رپوټ په اساس داسد په ۲٦ مه نیټه دمیدانښار په امنیتی پوستو باندی یو لړ بریالی تعرضی عملیات ترسره شول چی دهغی په نتیجه کی درژیم ۷ پوستی نیول شوی زیات شمیر عسکراوصاحب منصبان مړه او یوشمیر نور یی تښتیدلی اوهم رژیم ته درانه مالی زیاتونه رسیدلی دی .

همدارنګه دخبر ځای دیو بل خبر له مخی مجاهدینو داسد په ۲۵ مه نیټه دمیدانښار دپل سرخ اوابراهیم خیلو پر پوستوبرید وکړ چی دکابل رژیم ۳ پوستی یی ونیولی یو شمیر درژیم پلویان یی مړه او یوشمیر نور یی ټپیان اویو شمیر په تیښته مجبوره شوی دی .